WRITERS UNION OF FREE AFGHANISTAN
WUFA
1985

حبیب الله رفیع

د افغاني جرګو اجتماعي او رواني ارزښتونه

Ketabton.com

۱۳۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرگې

او د افغاني جرګو اجتماعي او رواني ارزښتونه

ليکوال

حبيب الله رفيع

۱۳۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب پیژندنه

*د کتاب نوم : د افغاني جرګو اجتماعي او رواني ارزښتونه

*لیکوال : حبیب الله رفیع

*خپرونکی : د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه

*د چاپ شمیر : ۲۰۰۰ ټوکه

*د چاپ کال : ۱۳۷٤ هـ ش / ۱۹۹۵ ع

*د چاپ ځای : ټاپ پرنټرز ، پیښور

*مهتمم : عبدالوکیل شینواری

*کمپوزر : سید حسین پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF ACKU 4904

بسم الله الرحمن الرحیم

سریزه

بشر د « ملي ارادې » او « ملي تصمیم » د واکمن کیدو لپاره اوږده مبارزه او جهاد کړی او د ځانونو په قربانیو او د سرونو په پوړیو دې هدف ته رسیدلی ، ملي ارادې ته یې تمرکز ورکړی او د « ملي ګټو » د ساتلو موقع یې برابره کړې ده .

د مطلقه ، فردي او استبدادي حکومتونو پر ځای د مشروطه ، جمهوري او انتخابي حکومتونو غوښتنه دې هدف ته د رسیدو لپاره مهم ګامونه دي او په هیوادونو کې د اولسواکو حکومتونو او آزادو انتخابي پارلمانونو جوړیدل او منځ ته راتګ د همداسې درنو ، اوږدو او پرله پسې او له قربانیو ډکو مبارزو محصول دي .

د یونان نامتو فیلسوف افلاطون په خپل « قانون » نومي کتاب کې د سیاسي اډانې او حکومت څومره بېل ډولونه ترڅېړنې لاندې ونیول او په عمومي توګه یې د یوه تن ، څو تنو او ډېرو تنو د حکومت ډولونه یاد کړل (۱) . د ده خلف ارسطو دې څېړنو ته پراختیا ورووبخښله او د داسې یوه ایډیال حکومت یادونه یې وکړه چې د خپلې ساحې د اوسیدونکو نیکمرغي یې لوی هدف دی ، او د ده د حکومت په ډولونو کې یو ښه حکومت موجود و او یو بل چې بیا هر یوه یې کیدای شوای د یوه تن ، څو تنو یا ډېرو تنو په لاس کې وي (۲) .

په [illegible] او نولسمه میلادي پېړۍ کې دود دا ؤ چې حکومتونه په دوه سلطنتي او جمهوري ډلو وویشي خو د شلمې پېړۍ نیمایی بله طرح رامنځ ته کړه چې حکومتونه یې په اولسواک « دموکراتیک » ، زورواک « استبدادي » او تل واک (انحصاري) وویشل (۳) .

پارلمان د ملي ارادې او ملي تصمیم د واکمن کولو یوه بله لاره وه ، د نړۍ لومړی پارلمان په ۹۲۵ میلادي کال کې د ایسلند په واړه هیواد کې چې د اروپا په شمال کې پروت دی ، جوړ شو او تر دې وروسته ډېر لرغونی پارلمان د انګلستان پارلمان دی چې په ۱۲۶۵ میلادي کال کې جوړ شو . د نړۍ په هیوادونو کې دوه ډوله پارلماني حکومتونه موجود دي ، ځینې هیوادونه یوه جرګه یا پارلمان لري خو په ډېرو هیوادونو کې دوې جرګې یا انتخابي ټولنې موجودی دي چې یوه ته یې د نماینده ګانو جرګه یا اولسي جرګه او بلې ډلې ته یې سنا یا د مشرانو جرګه وایی ، په انګلستان کې دوهم مجلس انتخابي نه وي او د « لاردانو مجلس » ورته وایی چې یوه مشورتي جرګه ده او زیات واک د نماینده ګانو له جرګې سره دی خو په امریکا کې سنا د ملي تصمیم نیولو لوړ مقام دی ځکه چې دی مجلس ته له هر ایالت نه دوه - دوه تنه انتخابي استازي رالیږل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د نماينده گانو جرگه يې چې د هر ايالت د استوګنو د شمير له مخې ټاکله کيږي يوازې په مالي چارو کې ډير واك لري (٤) .

په ۱۷۸۹ ميلادي کال کې د فرانسې لوی انقلاب د ملي ارادې د واکمنۍ لپاره لاره هواره کړه او د اوښتون مشرانو د فرانسې د ملت ټول افراد مجهز کړل ، اشرافي واکمنۍ ته يې خاتمه ورکړه او د منځنۍ طبقې واك يې ټينګ کړ (٥) .

په دې لنډو يادونو کې وينو چې په نړۍ کې د ملي ارادې د اداري لپاره ډيرې ستونزې ګاللی شوی خو دې مرحلې ته رارسيدلی او ملتونو حق موندلی چې په خپل برخليك کې جوړوونکی برخه واخلي .

زموږ ګران هيواد افغانستان د تاريخ په اوږدو کې د جرګې په نامه يوه مؤسسه درلودلې چې د ملي ارادې د سوډلو دنده يې ترسره کړې او زموږ لپاره يې د ملي سياست تاريخ جوړ کړی دی .

موږ په دې رساله کې د همدې ملي ، اجتماعي موسسې تاريخي څيره ، ټولنيز ارزښت ، قانوني پايه او رواني اغيزه څيړو او د افغاني ټولنې په سياسي بهير کې يې پر رول او ونډه خبرې کوو .

هو ! همدا د جرګې تاريخي مؤسسه وه چې افغانستان يې په بُحراني حالاتو کې د نجات ساحل ته رااېستلی او په افغانستان کې يې د دموکراسۍ او د خلکو د « ملي سلا » د پلي کولو لاره برابره کړې ده او اوس هم ضرورت دی چې يو ځل بيا دا مؤسسه په خپل ټاکلي ملي اصالت او رسالت راژوندۍ او عملي شي . او له دې سره تاسو د دې کوچنۍ رسالې لوستنې ته رابولم !

په مينه حبيب الله رفيع

۱۱ / ۲ / ۱۳۷٤

حيات آباد ، پستونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پایلیکونه :

۱ - افلاطون : دوره‌ء آثار افلاطون ، د محمد حسن لطفي ژباړه ، خلورم ټوك ، دريم كتاب له ۲۰۹۵ تر ۲۱۳۱ مخ پورې ، تهران ، ۱۳۶۷ ؛ خورشيد ، مهندس : مكتبها واحزاب سياسى ، ۲۰ مخ ، تهران ، ۱۳۶۱ .

۲ - محمد عاليخانى ، داكتر : حقوق اساسى ، ۱۰۹ مخ ، تهران ، ۱۳۷۳ د دبستان خپرونه ، مكتبها واحزاب سياسى ، ۲۰ - ۲۱ مخونه.

۳ - مكتبها واحزاب سياسى تر ۳۰ مخ وروسته . آ شورى ، داريوش : دانشنامه‌ء سياسى تر ۱٤۱ مخ وروسته .

٤ - مهرداد ، محمود : فرهنگ جديد سياسى ، ۳۰ مخ ، ايران ، ۱۳۶۳ ؛ دانشنامه‌ء سياسى ، تر ۷۶ مخ وروسته .

۵ - فرهنگ جديد سياسى ، ۲۱ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مطالبو فهرست

عنوان — مخ

(۱)

ښپرکی

عنوان	مخ
د جرگو تاریخي ځیره	۱
د میرویس نیکه لویې جرگې	٤
د احمد شاهي دورې لویې جرگې	۱۲
د اولس جرگې	۱٤
د امیر شیرعلي خان لویې جرگې	۱۷
د مجاهدینو ارتباطي جرگې	۱۸
د سراجي دورې جرگې	۲۰
د اماني دورې لویې جرگې	۲۱
د نادرخان دوره : د ۱۳۰۹ لویه جرگه	۲٦
د ظاهرشاه دوره :	۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
د جمهوريت لويه جرګه	۲۹
د مجاهدينو جرګې	۳۰
(۲)	
څپرکی	
د جرګو ټولنيز درېځ	۳۷
(۳)	
څپرکی	
د جرګو قانوني پايه	٤۳
(٤)	
څپرکی	
د جرګو رواني اغېزه	٤۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱)

ځپرکی

د جرګو تاریخي ځیره

په لرغوني افغانستان یا زړه آریانا کې د « جرګې » مؤسسه یوه هغه تاریخي ، سیاسي او اجتماعي مؤسسه ده چې په پراخه پیمانه یې د اولسي ارادې څرګندویې او ښکارندویې کړې او په محلي او ملي او حتی د افغانستان په اړه په بین المللي چارو کې یې اغیزمن او عملي رول درلودلی او د ملي تصمیم کرښې یې ټاکلې دي .

آریائیانو د یوه داسې نظام په غیزه کې ژوند کاوه چې اوس یې دموکراسي بولي : په قبیله یې کارونو او د کلي او قریې د ژوندانه او په مملکتي لویو او مهمو چارو کې به یې د ملت د ټولو طبقو له مشورې ، نظریاتو او افکارو څخه کار اخیست او د دې مقصدونو لپاره یې بیلا بیل مجلسونه درلودل چې دوه مشهور یې « سبهار » او « سمیتي » دي (۱) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د « سبها » جرگه به په کليو کې جوړېده او د کلي وړې پېښې به پکې فيصله کېدلې ، دا جرگه به په هر لوی کلي کې جوړېده او ځانګړی ځای او خونه ورته ټاکل شوي وو چې ټول خلك به بې له استثنى پکې راغونډېدل او خپلې شخړې او دعوې دنګلې به يې پکې فيصله کولې ، له ځينې نخښو نه ښکاري چې ښځو به هم برخه پکې درلوده . دې جرگو ته زموږ اوسنی کليوالي جرگې ډېرې ورته دي (٢) .

« سميتي » هم يو ډول قومي جرگه وه مگر د « سبها » غونډې د ملت ټول خلك نشوای پکې راغونډېدلای ، بلکه دا مجلس به خاص د قوم دريشيانو (شاعران او فکري لارښوونکي) نجباوو ، مخورو او لويو کسانو چې په خپله پاچا به هم گډون پکې کاوه . او زيمر (Ziumer) وايي چې پاچا به هم په « سميتي » جرگه کې ټاکل کېده خو د ريگويدا يوه سندره ښيي چې د پاچا ټاکل به د دواړو جرگو په خوښه وو ، نو څکه په دې سرود کې لولو :

« ټولو خلکو ته په پاچاهی ټاکلی يې ! » (٣) .

د « سبها » او « سميتي » دواړې جرگې د آريانا په ويدی دوره کې موجودې وی او د محققينو په قول د دې دورې زوړ عمر درې زره قبل الميلاد زمانې ته رسيږي (٤) چې له اوس نه د پنځو زرو کلونو شا او خوا زمانې واړن لري او دا نو هغه وخت دی چې په دنيا کې نه د ارسطو « ښه حکومت » منځ ته راغلی و ، نه د نړۍ « پارلمانونو » سترگې پرانستې وی او نه د ملي ارادې او ادارې د تعميل کومه بله رده او کرښه په نړۍ موجوده وه (٥) .

زموږ د ملي تاريخ مطالعه ښرگندوي چې په دې ډول جرگو کې به د ژوند ټولې چارې تربحث او څېړنې لاندې نيول کېدی . محلي او ملي شخړې ، پردي تيري او يرغلونه ، اجتماعي او حتی ديني او مذهبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چارې به يې خيرلې او فيصله کولې ، لکه « کنيشکا » يا « لوی کوشانشاه » چې د ۱۵۰ ميلادي کال شا او خوا د بودايي دين اوم واسوميشره ګندهارې په مشرۍ د بودايي ۵۰۰ تنه پوهانو لويه جرګه په پيښور کې جوړه کړه او د بودايي دين « هينه يانه » د کوچني مذهب پرځای يې « مهايانه » لوی مذهب غوره کړ (٦) .

په لرغوني افغانستان کې په سلهاوو لويې او وړې جرګې شوې چې مهمې پريکړې يې کړې او ياد يې په تاريخ کې پاتې دی خو موږ دلته له زړو زمانو څخه تيريږو او په معاصر افغانستان کې د څو مهمو لويو جرګو تاريخي څيره رابرسيره کوو او اهداف،لاس ته راتلنې ، پريکړې او اغيزې يې څيړو .

تر هر څه وړاندې د دې يادول ضروري دي چې د لويې جرګې اهميت او لويوالی د کميت له اړخه نه دی ، بلکه د کيفيت په نظر ورته کتل کيږي ، د کميت په لحاظ پنځه کسه هم يوه جرګه ده چې فيصله يې منظوره او منلې ده او د همدې کيفي اعتبار په بنا د « پنځو کسو ته کښيناستل » محاوره د جرګې په معنی او د طرفينو د مننې وړ ده ، زموږ په تاريخ کې د کميت په لحاظ ډيرې وړې جرګې وې چې ډير لوی او تاريخساز کارونه او اقدامونه يې کړي خو په مقابل کې له ډيرو ګڼو کسانو نه جوړې شوې جرګې شته چې ډير واړه او له ملي ارزښته لويدلي کارونه يې کړي دي .

د همدې ټکو په نظر کې نيولو سره د افغانستان د معاصر تاريخ يو شمير لويې جرګې په بيلا بيل ډول څيړو او په تشکل او اهدافو يې رڼا اچوو :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میرویس نیکه لویې جرګې :

له شپاړسمې تر اتلسمې میلادي پیړۍ پورې په افغانستان کې مرکزي او محلي حکومتونه رنګ او افغانستان د پردیو یرغلګرو ترمنځ وویشل شو ، په ماوراء النهر کې په ۱۵۰۰ میلادي کال کې شیبانیانو ، په ایرآن کې په ۱۵۰۲ میلادي کال کې صفویانو او په هندوستان کې په ۱۵۲۵ کال کې بابریانو نوي دولتونه جوړ کړل او دې درې واړو دولتونو د افغانستان له کورنۍ سیاسي کمزورۍ نه په استفادې سره د افغانستان بیلا بیلو سیمو ته لاسونه رااوږده کړل ، د افغانستان شمالي سیمې شیبانیانو ، غربی سیمې صفویانو او شرقي سیمې د هند کورګانیانو لاندې کړې او افغانستان تقریباً دوه نیمې پیړۍ د تجزیې په حال کې پاتې شو (۷) .

صفویانو په ۱۷۰۲ م کال کې د ګرګین په نامه یو خونخور بیګلر بیګی (حاکم) کندهار ته راولیږه چې په خلکو یې بې ساري ظلمونه پیل کړل او د وحشت او دهشت دوره یې رامنځ ته کړه (۸) . دې حالت په آزادۍ مین افغانان ځورول او هڅول یې چې یوه چاره یې وکړي ، په دې کسانو کې میرویس هوتکي چې ظاهراً په تجارت بوخت و ، د یوې اساسي چارې په فکر کې و ، څلور ځله په اصفهان کې د شاه حسین صفوي دربار ته ورغی او د ګرګین د ظلمونو نه یې شکایت ورته وکړ او په څلورم ځل :

میرخان ویل :

ای حسین پاچـا وګوره
حال د حاکم او رعایا وګوره

ګرګ دې ایله کړ په رمه سو شبان
جوړ وستم کاندی بیحد ګرګین خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ له طاقت نسته چې کړو په زياتي
صبر پر ظلم د ظالم ارمني

دا خلورم وار دی راځم سلطانه
عرض د ظالم د لاسه کړم سلطانه

که باچا نه کړي دادخواهي د مظلوم
ظالم حاکم کا ظلم ډير په محکوم

جور چې ډير سي سلطنت سي برباد
د ظلم قصر پوپنا بې بنياد (۹)

خو صفوي پاچا په ډيره بې تفاوتۍ او بې کفايتۍ ځواب ورکړ :

پاچا ويل : زه نسوای کولای چاره
د گرگين خان ظلم و ستم د پاره

که يې معزول کړم کندهار نه پريږدي
جور او ستم او خپل شعار نه پريږدي

گرگين خو گرگ دی گرگ خو ظلم کوي
وينی تويوونه هم پسونه ځيري

زه هم خايف يم چې به څه کرم گرگين
نامسلمان دی ، ارمني دی ، بې دين (۱۰)

په همدې ترڅ کې ميرويس نيکه هندوستان ته ظاهراً يو تجارتي سفر وکړ خو سياسي ليدنې کتنې يې هم وکړې او د هند سره ترلو پښتنو ملاتړ يې هم ترلاسه کړ چې په دې کې د ده ډيره مهمه کتنه د ختيځې پښتونخوا له لوی روحاني شخصيت فقير جميل بيگ سره ليده کاته دي چې هغه د بري زيری ورکړ او د ده د ملي مهم ملاتر يې وکړ (۱۱) .

ميروس نيکه له صفوي باچا تر مايوسۍ وروسته د حج په ديني

(c) ketabton.com: The Digital Library

سفر ولاړ خو بیا یې هم خپل سیاسي هدف او ملي مهم په مخ کې و ، د خدای (ج) د نازولي پیغمبر (ص) په پاك حرم کې یې د خپل اولس درد عرض کړ او د افغانانو فغان یې ورروساوه خو کله چې همهلته خوب یوړ نو زیری ورکړ شو :

چې میرویس هسې عرض کا حال د ظلم
هغه شپه مات سو توره ډال د ظلم

میرخان په خوب ولید صدیق اکبر
چې ورسره حضرت فاروق و عمر

وې یې : سپین ږیریه نور خه غم مه کوه
قوم دی خلاص سو کورت ماتم مه کوه

ولاړ سه خپل قوم ته دا زیری کړه ژر
چې د ظالم سو کم نقصان او ضرر

پښتون به خدای کا له ظالمه آزاد
نه به سي ننګه او ناموس یې برباد

خدای به دا قوم کا په رحم ودان
نوم به یې وینه مجاهد پر جهان

تل به د خدای په بنده ګۍ کې وي لوړ
خوك به یې نه کا سر په ټیټه ورځوړ

کلمه د خدای به وي جاري په افواه
ورکوي دوی به په دې لاره کې ساه (۱۲)

لوی نیکه تر دې وروسته حرم له علماوو مفتي ، قاضي او نورو باصلاحیته پوهانو سره وکتل ، په کندهار کې یې د ګرګین د ظلم حال ورته بیان کړ ، د صفوي پاچا بې تفاوتي یې وښوده او په نتیجه کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی فتوی په دې متن ترلاسه کړه :

« چې د ظالم د ظلم دفع روا
په تیر چې وي دې له اسلامه سوا » (۱۳)

کله چې هیواد ته راستون شو ظلم نور هم انتهاء ته رسیدلی و او ده له مخورو سره جرگې او مرکې پیل کړې او د آزادۍ په فکر یې خلك راغونډول . گرگین هم د ده له هڅو نه خبر و ، د پلمې جوړولو په لټه کې و ، لومړۍ بهانه یې دا وه چې له میرویس نه یې د خپل زوی لپاره لور وغوښته او میرویس نیکه هم د موضوع د ښه حل او په « سلا » حل لپاره قومي مشرانو ته مراجعه وکړه او د لرغوني افغاني عنعنې په بنا یې لویه جرگه راوبلله .

۱ - د میرویس نیکه لومړۍ جرگه :

میرویس نیکه د کندهار د زاړه ښار د غرب په شپږ میلۍ کې د « کوکران » په کلي کې د قوم مشران او لویان راوغوښتل ، د دې جرگې د غړو شمیر معلوم نه دی خو یقیناً چې د کمیت په لحاظ وړه وه ځکه د یوه ظالم او مستبد حاکم ترواك لاندې سیمه کې جوړیده او د اسرارو ساتل یې حتمي وو .

دا جرگه په ۱۷۰۵ م کال جوړه شوه (۱٤) د جرگې اصلي اجندا د گرگین زوی ته د میرویس نیکه د لور ور ودولو موضوع وه خو ده نور ټول مسایل ورسره رامنځ ته کړل او د دې لپاره چې د دوی راتلونکی پروگرام وران نه شي داسې یې وټاکله چې د میروس نیکه د لور پرځای یوه بله پیغله د گرگین زوی ته ور واده کړي او دوی به په یوه پاخه هوډ د دښمن د اساسي چارې لپاره په کار بوخت وي ؛ میرویس نیکه په جرگه کې د اولس نیکو احساساتو او له میړاني ډك هوډ ډاډه او خوښ کړ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمان بابا په دیوان کې ترفال نیولو وروسته یې چې دا بیتونه پکې راوتلي وو :

د مکتوب غوندې په پټه خوله گویا یم
خاموشي زما تیری کا تر غوغا زما

کښت د عشق په توده ځمکه امان چیرې
سمندر بویه چې زیست کا په صحرا زما (۱۵)

د جرگې غړو ته وویل :

« د ظالمانو کار تمام دی ، اما اوس دستي خاموشي بهتره ده ، ټول به په پټه خوله دا کوښښ کړو چې ظالمان ورك سي ، چې مناسب وخت راسي نو به زه پرتاسي ږغ وکړم هغه وخت باید ټول تیار اوسو اوظالمان له وطنه وباسو ! » (۱٦) . ده زیاته کړه : « موږ به اوس له تدبیر نه کار اخلو او خپلې توري به د گلابو تر پاڼو لاندې پټې ساتو » (۱۷) .

د جرگې غړو د دې تدبیر په تائید کې په قرآن کریم ، توره او ډوډۍ (۱۸) سوگند پورته کړ او وی ویل : « څوك چې د دې تړې مخالفت کوي ښځه دې پرې طلاقه وي ! » او په دې توگه یې میرویس نیکه ته پوخ ډاډ ورکړ او هم د نیکه له خدمتگارانو نه یوه پیغله په داوطلبانه ډول حاضره شوه چې د دې ملي هدف په لاره کې قرباني ورکړي او د گرگین له زوی سره واده ته حاضره شي (۱۹) .

د دې ورې خو پُرکیفه جرگې په نتیجه کې د اولس ترمنځ یوه معقوله او مدبرانه مفاهمه پیل شوه او هرچا بې له دې چې خبره افشاء شي او گرگین په ځان وپوهیږي د یوه منظم پاڅون تابیا کوله او د آزادۍ لپاره په کار بوخت وو .

۲ - د نیکه دوهمه لویه جرگه :

په ۱۷۰۷ کال کې چې د گرگین ظلمونه ترپخوا هم پسې زیات شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له بلې خوا د لومړۍ لويې جرګې د پريکړو له مخې خلك ويښ شوي ، يو موټی شوي او د پاڅون لپاره چمتو شوي وو ، ميرويس نيکه يو ځل په « مانجه » کې چې د کندهار شمال ختيځ ته په ۳۰ کيلومترۍ کې واقع ده ، لويه جرګه راوبلله او د پاڅون يو کوټلی او عملي خو مدبرانه پروګرام يې جوړ کړ .

په دې جرګه کې د کندهار د بيلا بيلو قومونومشران راغونډ شوي وو چې د ريدي خان په محمود نامه کې يې د دوولسو مشرانو نومونه ثبت دي :

۱ - سيدال خان ناصر ، د ناصرو مشر او د هوتکي دورې معروف او نامتو سپه سالار .

۲ - بابو جان بابي ، د بابيانو مشر او روڼ فکره اديب .

۳ - ملا پير محمد مياجي ، لوی مجاهد او روحاني شخصيت .

٤ - بهادر خان اندړ ، د امير الامراء خطاب لرونکی او د شال ، روب او ديره جاتو فاتح .

۵ - يوسف خان هوتك د سيورې د هوتکو مشر .

٦ - عزيز خان نورزی ، د دلارام د نورزو مشر چې د دلارام په پهلوان مشهور و .

۷ - ګل خان بابر ، د بابرو د قبيلې مشر .

۸ - نورخان برېڅی ، چې د شوراوك له خانانو څخه و .

۹ - نصرو خان الکوزی ، د جلدك د الکوزو مشر .

۱۰ - يحيی خان هوتك ، د ملي قايد ورور .

۱۱ - حاجی نور محمد خان مشهور په حاجی انګو نيکه ، د ميرويس نيکه وراره او بيا د هند په کورګاني دربار کې د هوتکي دولت سفير .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲ - یونس خان کاکړ ، د روب د کاکړانو مشر (۲۰) .

همدا راز ځيني تاريخونه په دې جرګه کې د بلوڅو او ترينانو د مشرانو د ګډون يادونه هم کوي (۲۱) .

دا لويه جرګه د افغانستان د ټولو اوسيدونکو د ملاتړ وړ وه اوټول پښتانه ، تاجکان ، هزاره ګان ، اوزبکان او بلوڅان د پردو په وړاندې ټه يوه ليکه کې ودريدل (۲۲) .

دا لويه جرګه د کميت له مخې وړه خو د کيفيت په لحاظ ډيره لويه وه ځکه له يوې خوا د جرګې هر غړي د خپلو لويو - لويو قبيلو نماينده ګي کوله او له بله پلوه همدې مهمې جرګې د آزادۍاو عمومي پاڅون بولۍ ورکړه او سوګند يې پورته کړ چې دښمن به نابودوي ، ميرويس نيکه د ګرګين د له منځه وړلو مدبرانه نقشه دوی ته شرح کړه او دوی ورسره ومنله ، نيکه دا هم وويل : د دې لپاره چې د ګرګين لښکرې خورې شي بايد د کاکړو او بلوڅو مشران ګرګين ته د ماليې له ورکولو نه غاړه وغړوي ، دی به خپلې لښکرې هغې خواته وباسي او په مرکز کې به نظامي قوه کمزورې شي ، په همدې ترتيب د پاڅون په ترخ کې ګرګين سره له ملګرو يې غافل ونيول شول او د ده د ټول لښکر د له منځه وړلو او خوړولو نقشه کاميابه شوه او په دې ترتيب تر دوه نيم سوه کلنۍ تجزيې وروسته د افغانستان يوه برخه له پردي تسلط نه آزاده شوه (۲۳) .

۳ - د نيکه دريمه لويه جرګه :

دوهمې لويې جرګې د پاڅون قومانده ورکړه ، د يوې شپې په ترخ کې کاميابه شوه او ملي اوښتون رامنځ ته شو ، نيکه تر برياليتابه وروسته يو ځل بيا د قومي مشرانو ملي جرګه راوبلله او دې جرګې ته يې هغه مشران هم راوبلل چې د ګرګين له لاسه يې کور کلي پرې ايښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او غرونو ته ختلي وو ، دا جرگه هم د کميت او هم د کيفيت له امله لويه وه ، اوښتون شوی و ، د اوښتون ساتنه په کار وه او د تيري کوونکي دښمن لاس لنډونه ، نيکه جرگې ته خپل مرام شرح کړ او د دوی په وړاندې يې د خپل حکومت بنه وټاکله ، ده وويل :

« ای افغاني اولسه ! له زړه نه وايم چې زما يوازيني هدف ستاسو خپلواکي وه ، خپلواکي داسې متاع ده چې د هغې په لاره کې هر څه کول په کار دي ، گرگين ووژل شو ، که له ما سره يو او يو لاس شئ او زما ملا وتړئ نو د ذلت او اسارت زنځيرونه به له غاړې نه وغورځوو ، د خپلواکۍ اوعزت بيرغونه به مو د هيواد په گوټ - گوټ او د نړۍ په هيوادونو کې ودريږي ... رښتيا هم قام د دين او وطن په لاره کې لوی خدمت ترسره کړ ، خپله سکه يې په مرمرو کې ووهله او د قيامت ورځې ته يې ښکلی اثر يادگار پريښود ... » (٢٤) .

ده د خپلې اوږدې او جذابې وينا په پای کې وويل : « بيا هم هغه څه چې د محمدي شريعت او افغاني غيرت غوښتنه وه ، ووبل شول ، اوس هم که داسې څوك په تاسې کې وي چې د پرديو غلامي ترخپلواکۍ ښه گڼي او خپل لاسونه د خپلواکۍ په هغه زرينه رسۍ چې له آسمانه راغځيدلې نه نيسي ، په بشپړه آزادۍ ويلای شي ، خو په ښکاره ټکو کې بايد ووايم چې بيا دې نو له موږ سره د اوسيدو تمه هم نه لري او بايد زموږ له خاورې او ملي رياست نه ووزي او د کوم ظالم باچا ترسيوري لاندې ژوند غوره کړي » (٢٥) .

دې جرگې په همهغه ورځ ميرويس نيکه خپل مشر وټاکه خو ده د باچا نوم پرځان کښينښود او په « ملي مشر » يې اکتفا وکړه او په حقيقت کې يې په دې عمل سره په افغانستان کې د جمهوريت خښته کښيښوده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میرویس نیکه ترمړینې وروسته د ده اخلافو دا ریاست په پاچاهۍ واړاوه او هم یې د جرګې زرین اصول هیر کړل نو ډیر ژر د واکمنۍ په سر له کورنیو شخړو سره مخامخ شول او په نتیجه کې د « خوش درخشید ولی دولت مستعجل بود » په بنا د دیرشو کلونو په اوږدو کې د آزادۍ دا لمر پریووت او یو ځل بیا د نادرافشار د فشار په نتیجه کې د نورو غلامۍ خپله کرغیړنه څیره را برسیره کړه . په ۱۷۳۷ م کال کې کندهار تر یو کلني کلا بندۍ وروسته د افشاریانو لاس ته ورغی او نوموړي خونخور پاچا تر ۱۷٤۷ کال پورې پر افغانستان سربیره هند هم لاندې او د هند مغولي واکمنې یې رانسکوره کړه (۲٦) .

د احمد شاهي دورې لویې جرګې

٤ - د شیر سُرخ د مزار جرګه :

کله چې د ۱۷٤۷ کال د جون په ۱۹ نیټه نادرافشار د ده باوري منصبدارانو وواژه یوځل بیا د دې زمینه برابره شوه چې د افغانستان خپلواکي ترلاسه او د افغانستان د خپلواکې حکومت لپاره یو انتخابي مشر رامنځ ته شي . د دې مهمې سیاسي مسألې د حل لپاره د قومونو مشرانو بیا هم د لویې جرګې لمنې ته لاس وغځاوه او د کندهار د شیر سُرخ په مزار کې د یوې لویې جرګې غونډې پیل شوې ، په جرګه کې د زیاتو قومونو مجربو او باوري مشرانو برخه درلوده ، د دې جرګې مهم غړي دا وو :

نور محمد خان غلجی ، محبت خان پوپلزی ، موسی خان اسحق زی ، نصرالله نورزی ، حاجی جمال خان بارکزی او ...

په دې مزار کې د لویې جرګې غونډې اته ورځې وشوې خو نتیجه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه ورنه کړه چې یوه مشر هم بل مشر ته خپل واك نه شو ورکولی او پرخپل ځان یې د هغه واکمني نه شوای منلی ، که څه هم په لومړي نظر د دې کار لپاره نور محمد خان میرافغان ډیر وړ بریښیده ځکه هم د پاخه عمر او هم د پخې تجربې څښتن و او په ټولو غلجي ټبرونو کې یې محبوبیت اونفوذ درلوده خو څرنګه چې توند مزاج یې درلود ونه ټاکل شو ، حاجی جمال خان هم زیات قومي ځواك درلود او مشران ویریدل چې دی د واکمنۍ په وخت کې استبداد ته لاس ونه غځوي نوځکه ټولو هڅه درلوده داسې څوك رامنځ ته کړي چې د دوی له آزاد مزاج ، د جرګې له اصولو او د افغانانو له اولسي روایاتو او عدالت سره سم ګام واخلي او په راتلونکی کې استبداد ته لاس ونه غځوي او هم د ډیرې پیاوړې قبیلې مشر نه وي (۲۷) .

تر نهمې غونډې پورې د مشر لپاره ټول شرایط ټاکل شوي وو ، د شیر سُرخ د مزار ملنګ صابرشاه په دې جرګه کې یو د کم عمر ځوان چې غلی به ناست خو غښتلی متې او زیاته هو ښیاري یې درلوده په دې. شرایطو برابر وموند ، له ځایه پاځید ، له نژدې کروندې نه یې د غنمو وږی (له بل روایت د وریشو وږی) راوشکول ، رایې وړل ، دې ځوان ته یې تاج ترې جوړ کړ ، په دستار یې ور وټومبه او غږ یې وکړ چې : « زه د دې نوي مسؤولیت لپاره دا ځوان ټاکم ! » د ټولو مشرانو دا ټاکنه خوښه شوه ، هو دا ټاکل شوی ځوان احمد خان و چې له دې ورځې نه وروسته د احمدشاه بابا په نامه یاد شو او په ډیر لږ وخت کې یې د خپل عقل ، فراست اومیړانې په مټو لویه افغاني امپراتوري جوړه کړه او د افغانستان ټولې خاورې یې د نورو له واك نه آزادې کړې (۲۸) او تر دوه نیم سوه کلنۍ دربه درۍ وروسته د افغانستان بشپړه آزادي ترلاسه شوه .

دا جرګه هم د کمیت له نظره ډیره لویه نه وه او څو معدودو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

محدودو مشرانو برخه پکې درلوده خو د کیفیت له پلوه ډیره لویه جرگه وه ځکه د افغانستان د لویدیځ د مهمو قومونو باوري مشران پکې موجود وو او هم له دې کبله چې یو لوی سیاسي گام یې واخیست او د هیواد د مشرتابه په برخه کې یې پوخ او مدبرانه تصمیم وکړ او د دې انتخاب نتیجه ډیره په زړه پورې او مطلوبه وه او د پښتنو هغه متل یې رښتیا کړ چې وایي : « کار چې په سلا وي بې بلا وي » .

د احمد شاه بابا ترمړینې (۱۷۲۷ م) وروسته د ده په اولاده کې د اقتدار پر سر خونړۍ کورنۍ شخړې پیل شوې ، مدبر وزیر شاه ولیخان بامیزایی د تیمورشاه له خوا ووژل شو او د قومي دښمنیو په نتیجه کې تیمورشاه په غلا پایتخت کابل ته راولیږداوه ، د ده ترمړینې وروسته د ده زوی زمانشاه د تیمورشاه د زامنو له منځ نه د یوه تن په پاچاهۍ ټاکونکې جرگه د زندان میلمه کړ او د واك پر سر په واکمنه کورنۍ کې وژنې او قتل و خون دومره زیات شو چې بالاخره انگریزانو په ۱۸۳۸ م کال کې له دې نفاق نه درنه استفاده وکړه ، زموږ پر هیواد یې وسله وال تیری وکړ او زموږ ملي واکمني یو ځل بیا رانسکوره شوه ، د دې ټولو بدبختیو لوی علت د جرگې (شورى) شاته اچول او د سلا او مشورې له منځه تلل وو (۲۹) .

د اولس جرگې

۵ - د جهادي مشرانو جرگه :

انگریزانو ، رنجیت سنگهـ او د افغانستان فراري پاچا شاه شجاع د ۱۸۳۸ کال په جون کې یو درې اړخیز تړون لاسلیك کر ، په دې تړون کې شاه شجاع ته وعده ورکړه شوه چې دی به د افغانستان پاچاهۍ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول کيږي او ده هم د قدرت په هوس کې د افغانستان زياتې سيمې انګريزانو او سکهانو ته ورو بخښلې او د دوی بشپړه غلامي يې ومنله ، د همدې قرارداد په بنا شاه شجاع له انګريزي لښکرو سره د سندهـ او بولان له لارې پر کندهار راغی ، کندهار يې ونيو او هلته د انګريزانو له خوا د ده تاجپوشي وشوه ، بيا يې د کابل پر لور لښکر کشي وکړه . غزنی يې لاندې کړ او امير دوست محمد خان له کابل نه د بخارا په لورتيښته وکړه ، شاه شجاع انګريزانو کابل ته راووست او پر تخت کښينول شو ، انګريزي نماينده مکناټن او نورو انګريزانو علناً ټول اختيارات ترلاسه کړل او پاچا د کلمې په حقيقي معنی « تش په نامه پاچا و » (۳۰) .

د افغانانو د ملي جرګو برکت و چې افغانانو ته يې له پردو يرغلګرو سره د مقابلې داسې ملي شعور ورکړی و چې هر افغان خپل مسؤوليت ګاڼه چې بې له قبلي مفاهمې په خپله ، خپله سيمه کې راپاڅيږي او د پردي تيري په مقابل کې ملي لښکر تنظيم او له تيري کوونکو سره مقابله پيل کړي .

په همدې اساس کله چې انګريزان له کندهار نه تر کابل پورې راتلل ، په لاره کې ډير بريدونه پرې وشول او دوی هم خصوصاً په غزني کې مجاهدين په ډير وحشت او قساوت قتل عام کړل خو دې وحشت او دهشت نه يوازې دا چې خلك ونه ويرولای شول ، بلکه د ملي پاڅيدنو حلقه يې لا پسې پراخه کړه ، د افغانستان په ګوټ - ګوټ کې خلك پاڅيدل ، پر انګريزی او د دوی د غلام پاچا پر تأسيساتو بريدونه پيل شول ، د ملي پاڅون حلقه د مرکز پر لور راتنګيدله او د بيلو - بيلو سيمو د مجاهدينو ترمنځ مفاهمې ټينګيدلې ، د دې پاڅون او د دې مفاهمو نتيجه دا شوه چې يوځل بيا يوه ملي لويه جرګه رامنځ ته کړي ، د روژې په يوه مبارکه شپه کې د ۱۸۴۱ م کال د نومبر په لومړۍ نيټه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل ښار په زړه عاشقان وعارفان کې د مشرانو یوه جرگه راغونډه شوه او د یوه عمومي پاڅون لپاره یې پریکړه وکړه ، جرگې چې د بیلا بیلو قومونو مشران پکې وو د پاڅون د رهبرۍ لپاره یوه دوولس کسیزه شورا جوړه کړه ، استازي یې وټاکل چې خلك پاڅون ته وهڅوي . د انگلیسانو مخابرې او ارتباطات ترڅارنې لاندې ونیسي او نور لازم اقدامات وکړي .

د انقلابي شورى د مشرۍ لپاره یې نواب محمد زمان خان د رئیس په حیث او امین الله خان لوگرى د « نایب » په حیث وټاکل . د دې شورى نور مهم غړي : غازي عبدالله خان اڅکزى ، میر مسجدي خان او ځینې نور کسان وو او د انقلاب د څرخ په څرخولو کې د دې مشرانو هم لوى لاس و : سکندر خان بامیزى ، امام ویردى (اوزبك) ، ملا احمد برنج فروش ، اکبر خوابگاهى ، آغا حسین قزلباش او نور په لسهاوو کسان (۳۱) .

د دې لویې جرگې د تدبیرونو په رڼا کې په دوو میاشتو کې دننه انگریزانو شرمیدلې ماته وخوړه او مجبور شول چې د ۱۸٤۲ کال د جنورۍ په ٦ نیټه کابل تخلیه کړي او د افغانستان آزادي ومني (۳۲) .

دا لویه جرگه هم د کمیت له پلوه ډیره لویه نه وه ځکه د نړۍ د وخت د لوى ښکیلاکي ځواك ترواك لاندې سیمو کې جوړیده او د امنیت ساتلو یې بشپړه هوښیاري غوښته چې وښوده شوه خو د کیفیت له خوا ډیره لویه جرگه وه او د ملي پاڅون لپاره یې داسې تدبیرونه ونیول چې په ډیره ښه توگه یې ملي رهبري وکړاى شوه او په ډیر لنډ وخت کې یې د هیواد آزادي ترلاسه کړه خو افسوس چې د انگریزانو تفتین د قدرت ته رسیدو تروخته پورې د دې جرگې ځینې غړي ، لکه غازي عبدالله خان اڅکزى او میر مسجدي خان د خاینانو او د خپلو عمالو په لاسونو شهیدان کړي وو او پاتې یې هم د ټبنتیدلې امیر دوست محمد خان د حکومت د بیا ټینگیدلو په اثر تس نس شول خو بیا یې هم د نړۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ کې یو لوی کار ترسره کړی و او هغه هم د لومړي ځل لپاره د انګریز د مغرور ښکیلاك شرمیدلي ماته وه ځکه تر دې وخته دوی خپل قدرت نه ماتیدونکی ګاڼه او د نړۍ نورو لویو او وړو هیوادونو هم فکر کاوه چې انګریز نه ماتیدونکی قوت او قدرت دی .

د امیر شیرعلي خان لویې جرګې

٦ - لومړۍ لویه جرګه :

امیر شیرعلي خان چې یو روڼ فکره پاچا و او لویو جرګو تهِ یوځل بیا ارزښت ورکړ ، ده په ١٨٦٥ م کال په کابل کې یوه لویه جرګه جوړه کړه ، دې جرګې ته یې د هیواد له بیلا بیلو سیمو نه دوه زره کسان راوبلل ځو ده ته د ده د وروڼو د اختلاف او دښمنیو په باب مشوره ورکړي ، چې تردې مشورې وروسته له خپلو وروڼو سره جګړې ته متوجه شو ، په نتیجه کې یې ماته وخوړه او د کابل تخت یې وروڼو ترې ونیو (٣٣) .

٧ - دوهمه لویه جرګه (٣٤) :

همدا راز ده د خپلې واکمنۍ په دوهمه دوره کې په ١٢٩٠ هـ ق (١٨٧٣ م) کال د خپل ١٣ کلن زوی عبدالله خان د ولیعهدی لپاره یو لوی جشن جوړ کړ او د شمس النهار د یوه اقتباس په استناد پنځه سوه زره تنه مخور او سپین ږیري ورته راغوښتل شوي وو (*) او اووه شپې او ورځې یې دوام درلود (٣٥) د همدې لویې غونډې په دوران کې امیر شیرعلي خان د افغانستان لومړنۍ کابینه جوړه کړه : سید نور محمد شاه یې صدراعظم وټاکه او د بیلا بیلو چارو لپاره یې وزیران موظف کړل (٣٦) .

(*) دا شمیره له عقل نه لرې ده کیدای شي یا په اقتباس او یا په خپله اخبار کې شمیره غلطه چاپ شوې وي (لیکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دواړې جرګې د کمیت په لحاظ ډیرې لویې وې او خصوصاً د دوهمې جرګې د ګډون کوونکو د شمیر په اقتباس کې که غلطي شوی وي هم یقیناً ډیره لویه جرګه به وه خو کیفیت یې د پخوانیو جرګو غوندې نه و ، ځکه اهداف یې ترهغې واړه وو ، له ورونو سره جګړه د اقتدار جګړه وه او خلکو له داسې موضوع سره ډیره علاقه نه ښوده او هم د ولیعهد تاکل د پاچا یو بل هوس و چې د خپل لوی زوی محمد یعقوب خان سره د مخالفت له امله یې کړی و خو بیا یې هم لویه میوه په افغانستان کې د یوه منظم او عصري حکومت او کابینې رامنځ ته کیدل وو .

بیا هم د اولس جرګې

۸ - د مجاهدینو ارتباطي جرګه :

په ۱۸۷۹ ع کال انګریزانو یو ځل بیا پر افغانستان وسله وال برید وکړ . امیر شیرعلي خان کابل پریښود او مزارشریف ته د روسانو د مرستې په تمه ولاړ خو هلته زړه چاودی مړ شو ؛ انګریزانو د ده زوی یعقوب خان چې له زندانه پر تخت کښینول شوی و له ځانه سره مل کړ . د ګندمک شرمیدلی تړون یې ورسره وکړ او د افغانستان حکومت یو ځل بیا د انګریزانو لاس ته ولوید . د افغانستان اولس هم د خپل طبیعي خصلت له مخې د پاڅون لاره ونیوه ، په هرځای کې سره راغونډ شول او د خپلو ملي مشرانو په لارښوونه یې پر انګریزانو بریدونه پیل کړل . د کابل ، کوهدامن او کاپیسا د جهاد مشران محمد کریم خان ، غلام حیدرخان کابلي ، میربچه خان کوهدامنی ، میرغلام قادرخان اوپیانی ، پرویزشاه خان پغمانی ؛ د تګاو او نجراو جهادي مشران محمد عثمان خان ساپی او ورور یې محمد شاه خان ؛ په لوګر کې د جهاد مشران غلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیدرخان ځرخي ، سمندر خان او محسن خان لوګري ؛ د میدان او وردګو جهادي مشران محمد جان خان وردك او ملا عبدالغفار خان لنګري ؛ د غزني او زابل جهادي مشران ملا دین محمد اندړ چې په ملا مشك عالم مشهور دی ، عبدالقادرخان غزنوي او ګل محمد خان اندړ ؛ په هرات کې نایب سالار حفیظ الله خان او سردار محمد ایوب خان ، په ننګرهار کې عصمت الله خان جبارخیل او د هیواد په ګوټ - ګوټ کې په سلهاو نور کسان چې د ملا مشك عالم د وینا له مخې د جهاد ټول مشران دري زرو تنو ته رسیدل (۳۷) .

دوی ټولو د هیواد په بیلا بیلو برخو کې محلي جرګې جوړې کړې وې او د ارتباطي شبکو له لارې یې دې جرګو ته د یوې واحدې جرګې بڼه ورکړې وه او د جهاد په ارتباط یې ګډ تصمیمونه نیول . د همدې ګډو تصمیمونو له مخې مجاهدینو د انګریزانو او مزدور حکومت ځالې ورانولې ، د مرکز په لور رالنډیدل او د کابل د محاصرې حلقه تنګیدله خو چې د ټولو سیمو مجاهدین له خپلې خپلې خوا پر کابل راچاپیر شول او په انګریزي چوڼیو یې اور بل کړ. په دې بریالي جهاد کې نارینه وو او ښځو ګډه برخه درلوده او د ۱۸۷۹ کال په دسمبر کې یې سوړ ژمی د انګریزانو لپاره په سره تنور بدل کړ او یو ځل بیا یې انګریزانو ته شرمیدلې ماته ورکړه .

دې جرګو د انګریزانو د شړلو پروګرام درلود خو د افغانستان د آزادۍ د سنبالولو کوم پروګرام ورسره نه و ، نوځکه کومه سکه چې محمد جان خان ضرب کړې وه پرې لیکلي یې وو :

میکنم دیوانگی تا بر سرم غوغا شود
سکه به زر میزنم تا صاحبش پیدا شود (۳۸)

او له همدې نیمګړتیا نه انګریزانو ګټه واخیسته له سردار عبدالرحمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان سره يې اړيکې ټينګې کړې او تر پټ تړون وروسته يې ده ته د پر تخت کښيناستلو بلنه ورکړه.ده ظاهراً د جهاد اعلانونه نشر کړل او د مجاهدينو له لارې حکومت ته ورسيد ، انګريزان هم جسماً له افغانستان نه ووتل خو په غيرمستقيم ډول عبدالرحمن خان د دوی د تحت الحمايه پاچايانو په توګه پاتې شو .

د مجاهدينو دې ارتباطي جرګو يو ځل بيا د افغانستان آزادي تأمين کړه او دا جرګه هم د کميت او هم د کيفيت له اړخه لويه او مهمه وه او دا چې وروستی نتيجه يې دښمنانو وترورله لوی علت يې دا و ، چې د افغانستان خلك له خارجي ښکيلاك سره ژوره دښمني لري خو له کورني استبداد سره بيا غيرملي او استبدادي حکومتونو روږد کړي دي .

د سراجي دورې جرګې

۹ - د بيطرفۍ لويه جرګه :

د ۱۹۱۳ م کال په اګست کې نړيوال عمومي جنګ ونښت ، په دې جنګ کې انګريزانو د افغانستان له تحت الحمايه حکومت نه توقع درلوده چې افغانستان د انګريز په ملاتړ په جنګ کې برخه واخلي او که نه نو بې طرفه پاتی شي ؛ د افغانستان روشنفکرانو او پر آزادۍ مين اولس اراده درلوده چې انګريزانو له جنګي مصروفيت نه په استفادې کولو سره له انګريزانو سره وجنګيږي او له تحت الحمايګۍ نه ځان خلاص کړي ، کابل ته راغلی د جرمنيانو او ترکانو هيئت له افغانستان نه غوښتنه کوله چې د دوی ملاتړ وشي او د انګريز په وړاندې په جګړه کې برخه واخلي او له دوی سره به په دې برخه کې هر ډول مرسته کيږي (۳۹) خو امير حبيب الله خان د موضوع د باريکۍ له امله منځنۍ لار خوښه کړه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان بشپړه بې طرفي یې اعلان کړه او انګریزانو ته یې په جګړه کې د نه شاملیدو ډاډ ورکړ ؛ محمود طرزی په سراج الاخبار کې د « حی علی الفلاح » ویښوونکی مقاله چاپ کړه خو د انګریزانو له خوا په مطبعه کې سانسور او له نشر څخه پاتې شوه (٤٠) .

پاچا په ۱۹۱۵ م کال د خپلې بې طرفۍ د تائید لپاره د افغانستان مشهور مشایخ ، لکه د اسلام پور پاچا (میرصاحب جان) ، د موسهي اخونزاده (ملا محمد جان) ، د تګاو ملا صاحب ، د هډې اخونزاده ، د بړو میا صاحب ، د حصارك میا صاحب ، شمس الحق صاحب ، د شور بازار حضرات ، حافظ جي صاحب ، ملا محمد مرید ، ملا عبدالغفار اخونزاده اونور کابل ته راوغوښتل ؛ د دغو مشایخو اونورو اولسي وکیلانو په شمول یوه لویه جرګه د امیر په وړاندې جوړه شوه او د ملت د اتفاق او د دولت د بې طرفۍ د سیاست ملاتړ یې وکړ (٤١) .

په دې لویه جرګه کې که څه هم ظاهراً انګریزان د افغانانو له ګوزار نه خلاص شول خو افغانستان هم له تباهۍ او د نړیوال جنګ له ډګر ګرځیدو څخه بچ او د نړیوالې سوځوونکې جګړې له لنبو څخه وژغورل شو .

د اماني دورې لویې جرګې

۱۰ - د « اتحاد مشرقي » په نامه لویه جرګه :

د ۱۹۱۹ م کال د فبرورۍ په ۲۰ نیټه د آزادی غوښتونکو یوې ډلې د افغانستان تحت الحمایه پاچا امیر حبیب الله خان د یوې کودتا په ترځ کې وواژه او تر دې وروسته د ده زوی امان الله خان د افغانستان بشپړه خپلواکي اعلان کړه او د افغان او انګریز دریم جنګ ونښت ، په جنګ کې انګریزانو د هیواد په جنوبي او غربي جبهو کې سخته او شرمیدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته وخوړه او د متارکې وړاندیز یې وکړ . د افغانستان حکومت متارکه ومنله خو انګریزانو یو ځل بیا غوښتل چې نظامي ماته په سیاسي ډګر کې جبیره کړي او هغه څه چې په جنګ یې له لاسه ورکړي وو په سوله کې یې ترلاسه کړي ؛ د راولپنډۍ د سولې په غونډه کې یې د افغاني هیئت مشر والي علي احمد خان وغولاوه او یوه مغلوبانه صلحنامه یې پرې لاسلیك کړه خو بیا هم دولت نور اقدامات وکړل او د ۱۹۱۹ م کال په اګست کې انګریزانو زموږ بشپړه آزادي ومنله (٤٢) . له دې سره هم داسې ګنګوسې لا خورې وې چې انګریزان به یو ځل بیا پر افغانستان وسله وال تیری وکړي ، د داسې یوه تیري د مقابلې لپاره د مشرقي تنظیمیه رئیس محمد نادرخان د « اتحاد مشرقي » په نامه یوه لویه جرګه راوبلله ، جرګه په ننګرهار کې د هډې صاحب د زیارت ترڅنګ راغونډه شوه ، په دې غونډه کې د مشرقي (اوسنی لغمان ، کونړ او ننګرهار د ولایتونو) د بیلا بیلو قومونو سپین ږیري ، عالمان ، سادات ، مشایخ اونور مخور سره راغونډ کړای شول او د خپلواکۍ د ساتنې او د وطن د دفاع او آبادۍ په برخه کې یې مهمې پریکړې وکړې ، دوی وغوښتل چې انګریزان دې د افغانستان آزادي د زړه له کومې ومني او که نه نو د سرحد ټول اقوام او قبایل د جهاد لپاره چمتو او اماده دي او د افغانستان آزادي به په خپلو وینو ساتي . په همدې غونډه کې د هر قوم مشرانو د پاك قرآن په حاشیه کې ژمنه لیك کړه ، د هر قوم ذمه واری یې وټاکلی ، د جهاد مشران او علمبرداران یې تعیین کړل ، د حکومت له خوا هر مشر او علمبردار ته یوه - یوه ښه تومانچه چې د هماغه قوم نوم او د جهاد د محاذ نوم یې پرې کیندل شوی و ورکړه شوه او پر نورو سوغاتونو سربیره هر یو قوم ته د جهاد یو - یو علم شریف هم ورکړ شو چې د جهاد آیتونه پکې لیکل شوي وو (٤٣) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د همدې تاريخ غونډې په افتخار په مشرقي کې د « اتحاد مشرقي » په نامه يو اخبار د ۱۹۲۰ کال د فروري په ۲۸ نېټه په خپرونو پيل وکړ (٤٤) .

دا لويه جرګه د آزادۍ ساتلو لپاره شوې وه ، د کميت له پلوه لويه وه ، د کيفيت له پلوه سره له دې چې د ټول هيواد د مشرانو جرګه نه وه خو اغيز يې عمومي او کيفيت يې لوړ و او انګريزان يې مجبور کړل چې د هندوستان په مسورۍ کې له افغاني هيئت سره د موضوع د هر اړخيز حل لپاره خبرو ته چمتو شي .

PROPERTY OF ACKU 4964

۱۱ - د اساسي قانون جرګه :

د افغانستان د خپلواکۍ او په ځنګ کې يې د مشروطه او قانوني حکومت د ټينګيدلو لپاره منظمه روښنفکري مبارزه له پخوا نه پيل شوې وه او د مشروطيت غورځنګ چې په ۱۹۰۵ کال کې په منظم ډول رامنځ ته شوی و (٤٥) د وخت د تحت الحمايه پاچا له خوا په بيرحمۍ وکوټل شو خو غلی نه شو او نور هم غښتلی شو خو يې په نتيجه کې پاچا را نسکور او د آزادۍ جهاد پيل شو . د همدې مبارزې په دوام په افغانستان کې د قانون جوړونې او د قواوو د تفکيك کار پيل شو او د افغانستان د لومړني اساسي قانون مسوده جوړه شوه . د دې « اساسي نظامنامې » د منلو او تصويب لپاره د ۱۹۲۳ کال د فرورۍ په ۲٦ نېټه د ملت د مشرانو لويه جرګه راوغوښتله شوه چې ۸۷۲ نماينده ګانو برخه پکې درلوده او د افغانستان دا لومړنی اساسي قانون يې تصويب کړ (٤٦) .

دې قانون ۷۳ مادې درلودې ، چې زموږ د هيواد سياسي او اجتماعي بنه ، د خلکو حقوق ، اداري تشکيلات او اساسات ټاکلي وو . دې قانون خلکو ته د فکر د آزادۍ ، د کار د آزادۍ ، د خبرو د آزادۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کور او حیثیت د مصؤونیت وعده وکړې وه او د قانون حکومت پکې اعلان شوی و (٤٧) .

د دې لویې جرګې کمیت او کیفیت دواړه لوړ وو او د اساسي قانون په تصویب سره یې افغانستان ته د قانوني ودې او پراختیا زمینه برابره کړه او هم د دې جرګې ترجوړېدو لږ وخت وړاندې د ۱۹۲۱ کال په اګست کې د دولت شورۍ جوړه شوې وه چې د هیواد مخور ، عالمان ، سادات او مشایخ پکې راغونډ وو . د قوانینو مسودې به یې جوړولې او د ارګ په شمالي برج کې یې ځای ورته ټاکلی و (٤٨) .

۲ - د پغمان لویه جرګه :

دا لویه جرګه د ۱۹۲٤ کال په جولای کې په پغمان کې جوړه شوه او د دولت خارجي تړونونه ، روابط او کورني قوانین اومسایل یې تر غور لاندې ونیول ، لیکن په حقیقت کې دا لویه جرګه د منګلو د سر اخیستنې په باب وه (٤٩) او کوم اعتراضونه چې دوی په قوانینو درلودل د هغو ترمیم وشو (٥٠) .

په دې لویه جرګه کې ټول ۱۰٥۲ تنه راغونډ شوي وو چې ۲۳۱ تنه یې د دولت وتلي مامورین او پاتې یې د بیلا بیلو ولایاتو خانان ، سیدان ، عالمان ، شیخان او ټاکلي وکیلان وو . د جرګې مشري د وخت د پاچا په غاړه وه او د هیواد پر ټولو داخلي او خارجي چارو مفصل بحثونه او پریکړې پکې وشوې (٥١) .

دا جرګه د کمیت په لحاظ هم لویه وه او د اهمیت په لحاظ هم ، ځکه لومړی ځل و چې د اولس له نماینده ګانو سره دولتي اسرار تربحث لاندې ونیول شول او حتی دوی پرې وپوهول شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳ - د اماني دورې وروستۍ لویه جرګه :

دا جرګه داسې وخت جوړه شوه چې د وخت پاچا د اروپا د خپل شپږ نیم میاشتني اوږده سفر نه بیرته هیواد ته راستون شوی و . ده ډیر نوي شیان لیدلي وو او غوښتل یې چې افغانستان هم په یوه ګام د نړیوال تمدن په کاروان پسې ورسوي نو د خپلو نویو پروګرامونو د اعلان لپاره یې د ۱۳۰۷ کال د وږي په ٦ نیټه (د ۱۹۲۸ اګست) په پغمان کې لـویه جـرګه راوبلله ، په دې لـویه جـرګه کې دوو زرو تنو برخه درلوده (۵۲) چې د وږي په ۱۰ نیټه پای ته ورسیده (۵۳) .

د دې جرګې مهم مصوبات دا دي : د دولت شورى په ملي شورا بدلول ، د مجرمینو جزا بخښل د پاچا حق دی ، د تفتیش د عمومي دایرې جوړول ، د دارالعجزه او دارالمجانین جوړول ، د خارروو د سر شمیر وخت ټاکل ، د عسکري خدمت درې کلنه دوره منل ، د ښبانونو الغاء ، رسمي لباس ټاکل د ملکي رتبو الفاظ د رسمي او خصوصي القابو له منځه وړل ، د هر جُرم تعذیری جزا ټاکل ، د عصري محکمو جوړول د خطیبانو او مدرسینو لپاره د شهادتنامو د موجودیت شرط ایښودل ، د حربي قواوو د پیاوړتیا لپاره د اولس مالي مرسته کول ، د رشوت مخه نیول ، د واده کولو د سِن تعیینول ، د ولیعهد ټاکل ، د افغانستان لپاره درې رنګه بیرغ منل او د ملي نښان ټاکل (۵٤) .

همدا راز دې لویې جرګې پریکړه وکړه چې لویه جرګه به تر دې وروسته د هرو پنځو کلونو په تیریدو مرکز ته راغوښتله کیږي او غړي به یې د پاچا میلمانه وي ، همدا راز لویې جرګې اولسي جرګې (ملي شورى) ته بشپړ واک ورکړ چې د ملت او هیواد په ګټه ټول جوړ شوي قوانین ومني او د اجراء وړ وګرځي (۵۵) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې جرګه کې د ملت نماينده ګانو خپله رايه په صراحت بيانوله او له اخلاقي جرآت نه يې کار اخيست خصوصاً د ديني چارو په برخه کې ډير ځير وو او د امان الله خان له ټينګار سره سره يې ځيني خبرې ،لکه د واده د سن ټاکل او نورې ونه منلې شوې (٥٦) .

له دې سره - سره دا جرګه د کميت په لحاظ لويه وه خو د کيفيت په لحاظ يې له يوې خوا غيرضروري ، احساساتي او حتى د زمان او مکان په لحاظ مضر وړانديزونه درلودل نوځکه يې نتايج د هيواد لپاره ډير خطرناك ثابت شول او د يوه تباه کن اړدوړ زمينه يې رامنځ ته کړه او ځه مو چې درلودل هغه هم د دې اغتشاش په اور کې وسوځيدل .

ځيني مؤرخين د وخت له پاچا سره د وزيرانو کار شکنتي او د دوی له خوا د لويې جرګې د وکيلانو تحريکول هم د دې لويې بربادۍ يو عامل ګڼي (٥٧) .

د نادر خان دوره

١٤ - د ١٣٠٩ لويه جرګه :

د ١٣٠٩ کال په ورى (د ١٩٣٠ سپتمبر) کې په کابل کې د وخت پاچا محمد نادرشاه يوه لويه جرګه راوغوښته چې ٣٠١ تنه انتخابي وکيلان او ٢٢٧ تنه د دولت مامورين او خارجي سفيران پکې وو (٥٨) .

د پاچا په افتتاحيه وينا کې د دې لويې جرګې د راغوښتل کيدو مطلب د ملي شورى د مقرراتو ټاکل ښودل شوي (٥٩) او هم همدې لويې جرګې د افغانستان تجديد شوی اساسي قانون بيا منلى (٦٠) خو په تبليغاتو کې يې پنځمې پريکړې چې د امان الله خان په باب يې کړې ډير ستر ځای نيولی دی (٦١) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ظاهرشاه دوره

۱۵ - د بیطرفۍ دوهمه لویه جرگه :

د ۱۹۳۹ کال په سپتمبر کې په نړۍ کې د دوهم نړیوال جنگ لمبې بلې شوې (۶۲) ډیر هیوادونه پکې خوړین شول او د آلمان او ایتالیې ترماتې وروسته متحدینو له افغانستان نه وغوښتل چې جرمني او ایتالوي مستخدمین او کار کوونکي دوی ته وسپاري خو د افغانستان حکومت یو حُل بیا د ۱۹٤۱ کال په جولای کې لویه جرگه راوغوښته چې په دې جنگ کې یې د افغانستان عنعنوي بیطرفي اعلان کړه (۶۳) او له هیواد څخه یې د آلمان او ایتالیې د متخصصینو وتل په دې شرط ومنل چې رك روغ خپلو هیوادونو ته ورسول شي او د تلو په وخت کې به په لار کې هیڅ راز ستونزې نه ورته پیښیږي ، سفارتونه به برحال وي سیاسي کسان به نه ایستل کیږي او د نړیوالو دپلوماتیکو مقرراتو له مخې به همدلته استوگن وي ، لویې جرگې دا پریکړه تصویب او حکومت عملي کړه او په افغانستان کې د جرمني اوایتالیې مستخدمین د برتانوي هند له لارې خپلو هیوادونو ته رك روغ وسپارل شول (٦٤) .

د دې جرگې پریکړه هم ډیره مهمه وه او په نړیوال خونړي جنگ کې د گران هیواد افغانستان لمن له وینو او اور څخه وساتله شوه .

۱۶ - د ۱۳۳٤ کال لویه جرگه :

تر دې وخته د افغانستان په گاونډ کې حالاتو ژور تغییر کړی و ، انگریزانو د هند نیمه وچه خوشې کړې وه او دلته د هندوستان او پاکستان په نامه دوه بیل هیوادونه جوړ شوي وو ، د افغانستان ملت

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل چې له افغانستان نه د ډیورنډ د کرښې په وسیله بیلې شوې سیمې بیرته له افغانستان سره یوځای او د افغانستان تاریخي صورت تکمیل شي خو د دې ترڅنګ د صوبه سرحد د پښتنو سیاسي لیډر خان عبدالغفار خان چې د هند ترویش وړاندې د واحد هند پر پاتې کیدو ټینګار کاوه د هند ترویش وروسته یې له پاکستان نه د پښتنو بیلتون او ځانګړې هیواد غوښت او له همدې سره د پښتونستان موضوع رامنځ ته شوه ، د افغانستان حکومتونو ته هم چې د ملت له خدمت نه عاجز وو دا مبهم غږ په زړه پورې و او د ملت توجه یې ورته جلبولای شوه خو تر ټولو دا غږ د روس لپاره خوندور و ځکه په دې اتن باندې د راګډیدلو له لارې یې په افغانستان کې ژوره رخنه کولای شوه او خپل هغه زاړه هدف ته چې پتر کبیر د افغانستان د نیولو په برخه کې ټاکلی ورسیدلای شوای .

هو ! همداسي وشول ، د پاکستان تر جوړیدو وروسته د افغانستان او پاکستان ترمنځ سیاسي فضا خړه پړه شوه ، سوړ جنګ پیل شو او د سیاسي اړیکو شلیدلو زمینه مساعده شوه . افغانستان تر نه ځلي زیات له غرب نه د نظامي مرستې غوښتنه وکړه خو یوه غربي هیواد هم د پاکستان له کبله دا غوښتنه ونه منله او د افغانستان حکومت له مجبوریته روسانو ته مخ واړاوه ، هغوی داسې ورځې ته شنه ناست وو او دا غوښتنه یې په مینه قبوله کړه (٦٥) .

دا وخت سردار محمد داؤد د افغانستان صدراعظم و ، د ١٣٣٤ کال د لړم په ٢٢ (د ١٩٥٥ نوامبر) یې لویه جرګه راوغوښته ، د دې لویې جرګې په پریکړو کې د پښتنو د موضوع ملاتړ او د حساسو حالاتو په بناء د افغانستان نظامي پیاوړتیا شامله وه (٦٦) او د همدې پریکړې په لاسوند د افغانستان حکومت له روسیې سره د نظامي پیرودنو تړون وکړ او ځوانان یې د نظامي زده کړې لپاره روسیې ته ولیږل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷ - د اساسي قانون لويه جرګه :

د ۱۹٦٤ کال په سپتمبر کې په کابل کې يوه لويه جرګه جوړه شوه او د افغانستان لپاره يې يو داسې نوی اساسي قانون تصويب کړ چې خلکو ته يې د اساسي حقوقو د تأمين اوتضمين وعده ورکړه . د احزابو آزادي ، د مطبوعاتو آزادي او د شاهي کورنۍ له انحصار نه د حکومت را ايستل او د مقننه ، مجريه او قضائيه قواوو سره بيلول د دې قانون مهم ټکي وو . دې جرګې د ٤۰۰ تنو شا او خوا غړي درلودل او د سپتمبر په ۱۹ نيټه يې د نوي اساسي قانون متن تصويب کړ (٦٧)

دا لويه جرګه هم د کميت له اړخه لويه وه او دا چې يو نوی اساسي قانون يې تصويب کړ دا يې ښه کيفيت و ...

۱۸ - د جمهوريت لويه جرګه :

د ۱۹٦٤ کال تصويب شوي اساسي قانون په خاص ډول د وخت د پاچا تربور محمد داؤد خان د قدرت له قانوني نيولو نه محروم کړ او په دې توګه د دوی کورنۍ شخړې او خوابدۍ د داسې ژورو عقدو سبب شوې چې داؤد خان اړ شو د قدرت ترلاسه کولو لپاره د کودتا لاره غوره کړي او د کودتا ملګري يې هم هغه کسان وټاکل چې د روس د خلق - پرچم غړي او يا د روس مستقيم ايجنټان وو . د ۱۳۵۲ کال د چونګابش جمهوري کودتا د همدې کسانو په لاس ترسره شوه او د دموکراسۍ لسيزې ته يې خاتمه ورکړه .

داؤد خان د ۱۳۵۵ کال ترسلواغې پورې (د ۱۹۷۷ فرورۍ) د دولت د رئيس په حيث کار وکړ خو همدا وخت يې وغوښتل چې خپل حکومت ته قانوني بڼه ورکړي . اساسي قانون نافذ او د دولت د اداري لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمهوررئیس وټاکل شي . دې درانه کار بیا هم د لویې جرگې راغونډیدل غوښتل ، او همدا وو چې د سلواغې په لسمه نیټه په کابل کې یوه لویه جرگه پرانستله شوه . د دې جرگې انتخابي وکیلانو هم تر ډیره حده انتصابي بڼه درلوده ، د داؤد خان د ملي غورځنگ نومي گوند غړي ورته ټاکل کیدل او انتصابي غړي یې هم د پخواني تعامل په خلاف تر ډیره حده د سپین ږیرو او مخورو پرځای هغه ځوانان او گوندي فعالین وو چې د لویې جرگې ورتیا یې نه درلوده او د عنعنوي تعامل له مخې لویې جرگې ته د راتلو د شرایطو درلودونکي نه وو .

د دې جرگې غونډو (١٦) ورځې دوام وکړ او په شپاړسمه ورځ د جمهور رئیس د ټاکل کیدو موقع راورسیده او په پای کې محمد داؤد د افغانستان د جمهور رئیس په توگه ومنل شو (٦٨) .

دې جرگې د کمیت له پلوه د (٥٠٠) تنو شا او خوا غړي درلودل خو د کیفیت له پلوه ځکه درنه نه وه چې انتخابي او انتصابي دواړې برخې غړي یې تر ډیره حده د لویې جرگې د غړیتوب د شرایطو درلودونکي نه وو .

د مجاهدینو جرگې :

د ١٣٥٧ کال د غوایي د خونړۍ کودتا له کیدلو سره زموږ په هیواد کې د روسیې ښکیلاک مزدور حکومت رامنځ ته شو او یو ځل بیا د افغانستان مسلمانو خلکو د یوه عمومي پاڅون تیاری پیل کړ ؛ د هیواد په گوټ گوټ کې محلي جرگې وشوې او جهاد پیل شو ، په پیښور کې د جهاد د مشرانو گډې شوراوې جوړې شوې . حتی د ١٣٥٨ کال د مرغومي په ١٥ نیټه (د ١٩٨٠ جنورۍ) په پیښور کې یوه ممثله لویه جرگه جوړه شوه او د سلواغې تر ٣٠ نیټې پورې یې غونډو دوام وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د هیواد د ټولو ولایاتو او ګوندونو استازي ورته راغلي وو (٦٩) خو دې جرګې د دروني ګډوډیو او د ګوندیو له امله عملي ګام وانه خیستلی شو او د غونډو له ختمیدو سره یې نتایج او دست آوردونه هم ختم شول .

تردې وروسته د مجاهدینو او هم د رژیم په ساحو کې تش په نامه ګڼې جرګې جوړې شوې خو « ملي » رنګ یې له لاسه ورکړ او موږ نه شو کولای چې د ملي او لویو جرګو په لړۍ کې یې وشمیرو او په دې سربیره زموږ په هیواد کې په لسهاوو نورې لویې او وړې جرګې د تاریخ په بیلا بیلو پړیو کې شوی چې دلته یې له یادولو او څیړنو څخه تیریږو او د جرګو د تاریخي څیړې په باب همدومره بحث کافي ګڼو .

پایلیکونه :

١ - کُهزاد ، احمد علی : « تاریخ افغانستان » لومړی ټوک ، ١٢٥ مخ ، (د افغانستان تاریخ ټولنه) ، کابل ، (١٣٢١ کال)
٢ - همدا اخځ .
٣ یاد شوی کتاب ، ١٢٦ مخ .
٤ - ګزیده ، ریګویدا ، د داکتر سید محمد رضا جلالي نایني څیړنه او ژباړه ، سریزه ، ٤٩ مخ ، نقره ، تهران ، ١٣٦٧ .
٥ - د حکومت د تاریخي بڼو له لپاره وګورئ د مهندس فرشید : مکتبها واحزاب سیاسی ، تهران ١٣٦١ .
٦ - کُهزاد ، احمد علی : « تاریخ افغانستان » دوهم ټوک ، ٢٥١ - ٢٥٢ مخونه ، د افغانستان تاریخ ټولنه ١٣٢٥
٧ - غبار ، میرغلام محمد ، افغانستان در مسیر تاریخ ، ٢٨١ مخ ایران ١٣٥٩ ش .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸ - بینوا عبدالرؤف ، هوتکیها ، ۱٦ مخ ، د افغانستان تاریخ ټولنه ، ۱۳۳۵ ش .

۹ - هوتك ، محمد : پټه خزانه ، ۷٦ مخ د استاد حبیبی سریزه او سمون ، کابل ، ۱۳۵٦ ش (څلورم چاپ) .

۱۰ - همدا اثر .

۱۱ - د تفصیل لپاره وګورئ : رفیع ، حبیب الله ، ادبي ستوري ، دوهم ټوك ، ۸۳ - ۸۷ مخونه ، کابل ، ۱۳۵۹ کال .

۱۲ - پټه خزانه ، ۷۹ - ۸۰ مخونه .

۱۳ - پټه خزانه ، ۱۲۲ مخ .

۱٤ - حبیبی ، عبدالحی : د افغانستان تاریخي پیښلیك ، ۱۵۲ مخ ، د بیهقی کتاب خپرولو مؤسسه ، ۱۳۵۳ .

۱۵ - پټه خزانه ، ٤۸ مخ .

۱٦ - پټه خزانه ، ٤۸ مخ .

۱۷ - هوتکیان ، ٤۳ مخ .

۱۸ - هوتك : امان الله خان : د خپلواکۍ لمر څرك ، ٤٦ مخ ، ۱۳٦۸ ، پیښور .

۱۹ - هوتکیان ٤۵ مخ .

۲۰ - پټه خزانه ، ۸۱ - ۸۲ مخونه ؛ د خپلواکۍ لمر څرك ، ٤۷ - ٤۸ مخونه .

۲۱ - هوتکیان ، ٤۵ مخ .

۲۲ - فیض زاد ، محمد علم : جرګه های بزرگ ملي افغانستان ، ۲۹ مخ ، لاهور ، ۱۳٦۸ .

۲۳ - د تفصیل لپاره وګورئ : د خپلواکۍ لمر څرك ؛ هوتکیان ؛ افغانستان د مسیر تاریخ ؛ پټه خزانه او د دې دورې نور تاریخونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲٤ - هوتکیان ۵۳ - ۵٦ مخونه .

۲۵ - همدا اثر ۵۵ - ۵٦ مخونه .

۲٦ - د پیښو تفصیل د همدې دورې په تاریخونو کې وګورئ !

۲۷ - حبیبی ، ارواښاد پوهاند عبدالحی ، تاریخ مختصر افغانستان ۲۵٦ مخ ، دوهم چاپ ، سازمان مهاجرین مسلمان افغانستان ، ۱۳٦۸ .

۲۸ - کُهزاد ، ارواښاد استاد احمد علی ، رجال و رویدادهای تاریخی ، ۷۷ - ۷۸ مخونه ، تاریخ ټولنه .

۲۹ - د پیښو د تفصیل لپاره وګورئ : تاریخ مختصر افغانستان افغانستان در مسیر تاریخ او د دې دورې نور آثار .

۳۰ - تفصیل د افغانستان د نولسمې پیړۍ په تاریخونو کې راغلی دی .

۳۱ - افغانستان در مسیر تاریخ ، ۵٤۸ - ۵٤۹ مخونه .

۳۲ - د دې ماتې جریان د لیدی سیل انګریزی لیکونکی په یاد داشتونو « شبخون افغان = د پښتنو یرغل » کې په ډېر ښکلي او اعترافي ډول بیان شوی ، د دې کتاب پښتو او دري ژباړې په ۱۳۳۹ کال په کابل کې خپرې شوې دي .

۳۳ - د افغانستان پیښلیك ، ۱۹٦ مخ .

۳٤ - ښاغلی فیض زاد په خپل کتاب «جرګه های بزرګ افغانستان» کې دا دواړې جرګې سره ګډې کړې دي (و ګ : د نوموړي کتاب ٤۳ - ٤٦ مخونه) .

۳۵ - آهنګ ، محمد کاظم ، رفیع ، حبیب الله : په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه ، ۲۷ - ۲۸ مخونه ، تاریخ ټولنه ، کابل ، ۱۳۵٦ .

۳٦ - رفیع ، حبیب الله : ژبپالنه ، ٤۷ - ۵۰ مخونه ، پښتو ټولنه ، ۱۳٦۱ ، کابل .

۳۷ - غبار ، میرغلام محمد : افغانستان در مسیر تاریخ ، ٦۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ٦۲٦ مخونه .
۳۸ - کُهزاد ، استاد احمد علی : « مسکوکات دوره‌ء اسلامی افغانستان » د افغانستان کالنۍ ۱۳۱۹ کال ، کابل .
۳۹ - پاکرای امیر محمد شریف : حکومت مؤقت هند در کابل ، تر ۷٤ مخ وروسته ، ۱۳٦۸ کال ، کابل .
٤۰ - په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه ، ۸۲ - ۸۸ مخونه .
٤۱ - افغانستان در مسیر تاریخ ، ۷۳۹ مخ ؛ د افغانستان پیښلیك ، ۲۲۸ مخ .
٤۲ - اخلاص ، عبدالخالق او رفیع ، حبیب الله ، د استقلال ځلورمه جبهه ، د سریزې ۱۱ - ۳۷ مخونه ، ۱۳٦٥ ، د امان کتاب خپرولو مؤسسه ، پېښور .
٤۳ - کشککی ، مولانا برهان الدین : نادر افغان ، ۲۰٥ - ۲۱۲ مخونه ، ۱۳۱۰ هـ ش ، کابل .
٤٤ - د استقلال ځلورمه جبهه ، ۱۳۲ - ۱۳۳ مخونه .
٤٥ - حبیبی ، پوهاند عبدالحی : جنبش مشروطیت در افغانستان سازمان مهاجرین مسلمان افغانستان ، ۱۹۸٦ .
٤٦ - د افغانستان پیښلیك ، ۲٤۳ مخ .
٤۷ - رفیع ، حبیب الله : په افغانستان کې د قانون جوړونې شروع او نهضت ، قلمي نسخه .
٤۸ - د استقلال ځلورمه جبهه ، ۱۳٥ مخ .
٤۹ - د منګلو د بغاوت په اړه ارواښاد عبدالخالق اخلاص سیف الامان په نامه په ۱۱۲ مخونو کې یو منظوم کتاب لیکلی چې ټولې پېښې په تار تاریزه توګه پکې تشریح شوی ، د دې کتاب قلمي نسخه ښاغلي محمد هاشم زماني راسپارلې چې د کاتب الحروف له سریزې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشریحاتو سره د چاپ په انتظار دی .

۵۰ - کشککی ، مولانا برهان الدین : رویداد لویه جرگهء دارالسلطنة ، کابل ، ۱۳۰٤ کال .

۵۱ - همدا پورتنی اثر ، ٤۲۲ - ٤٦۰ مخونه .

۵۲ - د افغانستان پیښلیك ، ۲۵۷ مخ .

۵۳ - طلوع افغان ، ۷ کال ، ۷۰ گڼه ، د ۱۳۷۰ د وري ۳۰ ، کندهار .

۵٤ - همدا پورتنی جریده او د همدې کال د امان افغان د وري د نهمې نیټې فوق العاده گڼه .

۵۵ - مهربان ، عبدالله : تاریخ جرگه های ملی در افغانستان ، ۱۰۱ مخ ، د افغانستان د دموکراتیك جمهوریت پلار وطنه جبهه ، ۱۳٦۱ .

۵٦ - جرگه های بزرگ ملی افغانستان ، ۱۳۲ مخ .

۵۷ - هندی ، عزیز : زوال غازي ، ٤۵ - ٤۷ مخونه ، ۱۹۳٤ م .

۵۸ - د افغانستان دولت : تردید شایعات باطلهء شاه مخلوع ، فیصلهء نمبر ۵ لویه جرگهء ۱۳۰۹ افغانستان ومعرفی اعضاء وشرکاء وسامعین موقره ، ۸۱ - ۱۱٦ مخونه ، د ۱۳۱۰ دوری لومړۍ نیټه ، کابل .

۵۹ - الحاج ننگیال (ټولوونکی) : اسناد تاریخی افغانستان ، ٤۲ مخ ، فرهنگ جهاد ، ۱۳٦٦ .

٦۰ - د افغانستان پیښلیك ، ۲٦۵ مخ .

٦۱ - وگورئ : تردید شایعات باطلهء شاه مخلوع .

٦۲ - محمود مهرداد : فرهنگ جدید سیاسی ، ۲٦۳ مخ ، ایران ، ۱۳٦۳ .

٦۳ - د افغانستان پیښلیك ، ۲۸۵ مخ .

٦٤ - چکنوری ، سناتور غلام نبی : « لویه جرگه » خپلواکي ، دوهم کال ، خلورمه گڼه ، ٤٤ مخ ، د ۱۳٦٦ تله - لیندۍ .

٦۵ - استاد پژواك لیکوال ته ورکړی معلومات .

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦٦ - حق شناس ، داکتر ش . ن : د سایس وجنایات روس در افغانستان ، ۹۹ مخ ، تهران ، ۱۳۶۳ .

٦٧ - کشککی ، صباح الدین ، دهه‌ء قانون اساسی ، ۳۲ - ۳٤ مخونه ، د افغانستان د جهاد ثقافتی شوری ، ۱۳۶۵ .

٦۸ - جمهوری پلوشه ، دوه میاشتنی مجله ، د ۱۳۵۵ د سلواغې او کب گڼه ، لومړی مخ .

٦۹ - د تفصیل لپاره وگورئ : وجدی ، عبدالجلیل : په افغانستان کې د عنعنوي جرگو نن او پرون ، ۲۱۸ - ۲۵٦ مخونه ، د امان کتاب خپرولو مؤسسه ، ۱۳۵٦ ، پیښور .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲)

څپرکی

د جرگو ټولنيز دريځ

تیر څپرکي موږ ته په ګران افغانستان کې د جرگو څیره راوښوده او څرګنده شوه چې زموږ جرگې که د کمیت په لحاظ لویې وې یا وړې خو د کیفیت په لحاظ یې اهداف او اغراض لوی او مهم وو ، لکه :
د هیواد آزادي ، د حکومت د ګوډاګي کیدو په صورت کې د ملي ارادی تنظیم ، د هیواد د مشر ټاکل ، د هیواد د داخلي او خارجي پالیسۍ تعیینول او د هیواد د آبادۍ او پرمختګ . د میرویس نیکه (لومړی او دوهمه جرگه) د مجاهدینو (پنځمه ، اتمه او نولسمه جرگه) د هیواد د آزادۍ د بیا ترلاسه کولو لپاره وې چې ټولی کامیابی شوې . د جنګ او مبارزې ښه رهبري یې وکړه او د خارجی ځواکونو نه یې د هیواد خپلواکي ترلاسه کړه . د میرویس نیکه جرگه (دریمه جرگه) او د شیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سُرخ د مزار جرگه (څلورمه جرگه) د هیواد د مشر ټاکنې جرگې وې چې مشران یې وټاکل او د قدرت خلا یې ډکه کړه . د اتحاد مشرقی جرگه (اوه لسمه جرگه) د آزادۍ د ساتنې لپاره وه چې ملت یې د خپلې آزادۍ ساتلو ته ځار و او پر دې چار مکلف کړ . د بیطرفۍ دوې جرگې (نهمه او پنځلسمه جرگه) د نړیوال جنگ له اور نه د افغانستان ژغورل وو چې هم یې افغانستان له دې اوره وژغوره او هم یې د دې هیوادونو هغه کسان چې د افغانستان لپاره یې خدمت کړی و په نړیوال تضمین خپلو هیوادونو ته روغ رمټ ورسول . یوولسمه ، دوولسمه ، اوولسمه او اتلسمه جرگه د اساسي قانون د منلو جرگې وې چې د دوخت له غوښتنو سره سم یې قوانین پاس او دولت او اداري ته یې قانوني بڼه وروبخښله ، د نورو جرگو پریکړې هم عملي شوې او د افغانستان مهمې ملي چارې یې د اولس له ارادې سره سمې کړې .

افغاني عنعنه یې جرگو د بیروکراسۍ طومارونه نه درلودل او پر کاغذي لیکنو یې تکیه نه وه ، بلکه د دې جرگو ژبنۍ پریکړې د کاڼي کرښې وې او عملي کیدل یې حتمي او ضروري وو خو ورو - ورو د حکومت بیروکراسۍ په جرگو کې هم رخنه وکړه نوځکه یې کله - کله پریکړې د کاغذ پرمخ پاتې شوې .

افغاني جرگو په یو ځایي د مقننه ، قضائیه او مجریه قواوو وظیفه درلوده (۱) او هم ځینې څیړونکو د مؤسسانو له مجلس سره ورته بللې دي (۲) خو حقیقت دا دی چې لویه جرگه یوه ځانگړې آریایي پدیده ده چې افغانانو ته په میراث رارسیدلې او یوه مستقله افغاني نمونه گرځیدلې چې په نورو هیوادونو کې یې کټ مټ ساری نه شو موندلای (۳) نو له همدې کبله دا د افغاني ټولنې د نظم او اداري تر ټولو لوړه مرجع گڼلای شو چې د ملت ټولې ښې او بدې ټاکلې شي او په داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حساسو وختونو کې چې نه حکومت وي او نه بله کومه واکمنه مرجع د ملت د سرنوشت او برخليك په باب فيصله کوي نوځکه لويه جرگه يوه عاجله رهبري ده ، کامله رهبري ده ، واکمنه رهبري ده او د ملت د ارادې ښکارندويه او ځرگندويه رهبري ده .

د لويې جرگې غړي که ظاهراً د افرادو بڼه لري خو بالقوه هر غړی د يوه قوم او يوې سيمې حيثيت لري او که لويې جرگې ته په واقعاً ملي ډول غړي وټاکل شي يقيناً چې لويه جرگه د ټول ملت د غونډې بڼه غوره کوي او تصميم يې د ټول ملت د تصميم حيثيت لري او هغه شخړې چې پاچايان يې په لکونو لښکرو نشي غوځولی لويه جرگه يې په محدودو غړو هوارولی شي .

د جرگې همدا اهميت او ارزښت و چې د افغانستان ملحد ، دين دښمن او هيواد پلوري کمونستان هم ورته متوجه شول او لکه ځنگه يې چې په خپلو او خپلو شوروي بادارانو د شومو اهدافو لپاره ټول ديني او ملي ارزښتونه تر پښو لاندې کړي وو همداسې يې د لويې جرگې د توهين کولو او اهميت له منځه وړلو لپاره هم اقدام وکړ خصوصاً کله چې د دوی د پلار وطنې جبهې روسي ماډل بيخي رسوا او ناکام شو نو د ۱۳٦٤ کال د ورې په ۳۱ نيټه (د ۱۹۸٥ اپريل) د شوروي را صادر شوي گوډاگي ببرك کارمل په کابل کې د لويې جرگې په نامه يوه غونډه وکړه چې د کميت په لحاظ يې ۱۷۹٦ کسان پکې کښينولي وو خو دا يو هم د اولس او خلکو نماينده گان نه وو ، زيات شمير يې د کمونست خرڅ شوي گوند غړي او نور يې له دې گوډاگي رژيم سره د تړليو اتحاديو غړي وو خو محدود کسان داسې پکې وو چې له خپلو سيمو نه د کمونست رژيم د ملاتړ په جُرم راځغلول شوي او په کابل کې يې د کمونستانو په سيوري کې ژوند کاوه خو په جرگه کې تر گڼون وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو سیمو ته له تلو سره ووژل شول او ملت د خپلي جعلي نماینده ګۍ غچ تري واخیست . څرنګه چې په دې جرګه کې د خلکو واقعي نماینده ګان نه وو نو په هغه کتاب کې چې کمونستانو د لويې جرګې په نامه چاپ کړی ، د دوی د نوملیك له څېرولو څخه ډېره شوي او يوازي د هغو څو تنو نومونه يې اخيستي چې په دې تش په نامه جرګه کې يې د روس په ملاتړ وینا وي کړی دي (٤) .

همدا راز عجیب چې روسانو تر ببرك سره روزلي و د خپلي ژبني نرمي پاليسۍ د پرتوګ لپاره بیا هم د لويې جرګې په نامه د ۱۳٦٦ کال د لیندۍ په اتمه نیټه (د ۱۹۸۷ دسمبر) د خپلو مزدورانو يوه غونډه جوړه کړه چې د دې غونډې غړي هم د مزدور ګوند او اتحاديو غړي وو او له ملت نه دومره په تجرید کې وو چې حتی د غونډې تالار هم د مجاهدينو په محاصره کې و او د راکټونو ګولۍ يې پرې واورولي حتی دا تش په نامه جرګه دومره پاشلي وه چې د مزدور ګوند غړو هم د تالار مخه کې يو د بل ويني وبهولي (٥) نوځکه د دې غونډې پريکړې هم د کمونستانو د نورو پريکړو غوندي بې نتيجې او بې پايښته وي او دا د کمونستانو يوه دسیسه وه چې د لويې جرګې تاريخي او ملي مؤسسه بدنامه او ناکامه کړي خو د افغانستان مسلمان ملت دوی ناکام او زبون کړل او د قدرت له څوکۍ نه يې د تیښتې لاره خوښه کړه اما متأسفانه د يوې لويې نړيوالي دسيسي له مخې په کابل کې په ۱۳۷۱ (۱۹۹۲) کال د يوه ملي اسلامي حکومت پرځای يو داسې ائتلافي حکومت ټينګ شو چې کليدي څوکۍ يې د کمونستانو او نژاد پالانو په لاس کې ولويدې او د افغانستان د ملت د هيلو په لاندې کولو سره يې بيا يوه غيرملي اداره جوړه کړه او د دې اداري د ټينګښت لپاره يې د ۱۳۷۱ کال (۱۹۹۲) په لیندۍ کې يوه جرګه هم جوړه کړه خو د خلکو د لا

(c) ketabton.com: The Digital Library

غولولو لپاره يې د لويې جرگې پرځای د اهل حل وعقد د شورى نوم ورکړ خو په حقيقت کې دا هم يوه نمايشي شورى وه چې غړي يې د يوه گوند وو او د يوه گوندي حکومت د بقا لپاره يې په مصنوعي ډول راوستي وو او د ملت هيڅ ډول سيمه ييزه ، قومي او سياسي نماينده گي يې نه کوله ، له همدې امله ائتلافي رژيم ونه کړای شول چې د دې جرگې د غړو مفصل نومليك نشر کړي او د ملت نماينده گان يې وبولي (٦) .

په دې ترتيب موږ ويلای شو چې د لويې جرگې ټولنيز ارزښت په دې کې دی چې د افغاني ټولنې له عنعنه يي دموکراسۍ سره سم د هرې سيمې داسې کسان چې واقعاً اولس يې خپل نماينده وبولي پکې راغونډ کړای شي ، هغوی مخ ته پرتې ستونزې تربحث او څېړنې لاندې ونيسي او بيا د خپل هيواد د عيني او ذهني شرايطو په نظر کې نيولو سره داسې پريکړې وکړي چې د نظري پرځای عملي او د کاغذي پرځای تطبيقي وي او همداسې پريکړې کولای شي چې هيواد ، لکه څنگه چې پخوا څو څو ځل شوي له خطرناك حالت نه راوباسي او قانوني مسير ته يې واچوي او که داسې ونه شي د زور او د تغلب حکومت ، نژادي او سيمه ييز حکومت ، يو گوندي او تحميلي حکومت په هيڅ ډول نه چليږي او لکه په تاريخ کې چې گورو په بد اوناوړه ډول را نسکوريږي .

پايليکونه :

١ - هوتکيان ، ٥١ مخ .

٢ - آقا بکف : خاطرات آقا بکف ، د داکتر حسين ابو ترابيان ژباړه ٧٣ مخ ، تهران ، ١٣٥٧ .

٣ - دهه‌ء قانون اساسی ، ٣٢ مخ .

٤ - لويه جرگه ، ١٣٦٤ ، کابل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ - افغان جهاد ، د افغانستان د جهاد د ثقافتي شورى درې میاشتنۍ خپرونه ، دوهمه ګڼه ، د ۱۳۶۶ کال وږی - لینډۍ ، د پینسلیك برخه .

۶ - د مجاهد جریدې د ۱۳۷۱ کال د مرغومي د ۲۸ ګڼې د ولایاتو او ګوندونو په شمیر یو جدول جوړ کړی چې ټول نماینده ګان یې ۹۸۳ څوکلي چې پکې یوازې ۳۶۲ تنه د جمعیت غړي دي ، د ننګرهار ولایت برخه نه ده پکې اخیستی او هم یې هغه نور غړي چې د رژیم له خوا پکې راغونډ شوي وو او تر ۵۰۰ تنو یې شمیر رسیده له دې احصائیې نه غورځولي دي تفصیل لپاره وګورئ : افغان جهاد ، شپږم کال ، دوهمه ګڼه ، د ۱۳۷۱ مرغومي - کب ، ۷۰ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

خپرکی

د جرگو قانوني پایه

د بشر د ژوندانه تکاملي پړاوونو ، ذهني ، فکري او ټولنیزې ودې ، د بشر د اداري لپاره د سیاسي مؤسسو جوړښت او پیدایښت ورو - ورو په بشري ټولنو کې د حقوقو خیره روښانه کړه او د ې حقوقو د تأمین او تضمین لپاره د نړۍ په بیلا بیلو هیوادونو کې اساسي او مدني قوانینو سترگې وغړولی او د ټولنیز ژوند اډانه یې وټاکله . دولتونه ، پارلمانونه احزاب او ډلې هم د دې تکاملي بهیر یوه برخه ده چې په ټولنو کې قانوني پایه ټینگوي او د ملتونو حقوق خوندي کوي .

په نړۍ کې کامیاب حقوقي او قانوني نظامونه هغه دي چې د خپلو هیوادونو او ملتونو له غوښتنو ، اړتیاوو او شرایطو سره رامنځ ته شوي وي او د تطبیق پراخه او ویړه ساحه ولري . انسان یو ټولنیز مخلوق دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د همدې ګڼو ټولنيزو رواني او مادي اړتياوو له مخې يې له ډېرو ليرې او ناپيژندل شويو زمانو نه په تدريجي ډول ټولنه جوړه کړې او په ټولنه کې يې ژوند کړی ، له همدې امله فرد ټولنې ته دومره اړتيا لري ، لکه کب يې چې اوبو ته لري او له ټولنې نه د فرد بيلول د هغه له منځه وړلو مفهوم موندلی دی نو له دې کبله د دې اجتماعي نظم د ټينګښت لپاره حقوق ، حدود او قوانين ټاکل شوي دي (١) .

د حقوقو او قوانينو په ټاکلو کې د ملتونو تجربې درنه ونډه لري او تر ډېره حده يې تطبيق شويو عمليو ته د حقوقو او قوانينو بڼه ورکړې او په تکرار سره دا تجربې نورې هم پخې شوې او لازم ترميمونه پکې شوي دي .

د نړۍ تاريخونه په دوو دورو ويشل کيږي : قبل التاريخي او تاريخي دوره خو د افغانستان په تاريخ کې د قبل التاريخ او تاريخي دورې ټکونه لا تراوسه په واضح او مشخص ډول ټاکل شوي نه دي ځکه موږ يوه بله دوره هم لرو چې په هغې کې خط لا منځ ته نه و راغلی خو د ادبياتو پنډ - پنډ ذخاير چې په شفاهي ډول ايجاد شوي وو خلکو د حافظې له لارې له يوه نسل نه بل نسل ته ليږدول ، دا دوره د افغانستان په تاريخ کې ډېره اوږده ، غني او له هنګامو ډکه دوره وه چې ګڼ داستانونه ، اسطورې ، سرودونه ، کورنۍ ، رزمي چارې او نور پکې رامنځ ته شول چې خاطرې يې د خط ترايجاد وروسته ضبطې شوي او ترننه را پاتې دي ، د دې ناليکلې دورې خاطرې چې د « نيمه تاريخي دورې » ، « اسطوره يي دورې » يا « داستاني او رزمي دورې » نوم ورکولای شو ډېرې زړې ، پياوړې او اساسي وی (٢) .

د ويدی ادبياتو پر ايجاد سربيره هغه حقوقي او قانوني تجربې چې موږ يې اوس افغاني نرخونه او کودونه بولو هم له همدې وخت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رانښلیدلي او د افغاني آریایي ټولنې د حقوقي او قانوني ژوند اړانه یې ټینګه کړې او ټولنیز مناسبات یې منظم کړي دي .

دې تجربو لا همهغه خپل شفاهي او غیر کتبي خصوصیت ساتلی او سینه په سینه رالیږدیدلی دي . جرګه هم له دې تجربو نه یوه تجربه ده چې د تاریخ په اوږده واټن کې یې تکاملي مزل کړی او تر نن پورې یې له خپل بشپړ ارزښت سره ځان رارسولی دی .

په افغاني ټولنه کې د جرګو قانوني او حقوق پایې همهغه کودونه او نرخونه دي چې په دې ټولنه کې یې تاریخي وده کړې او په خپله جرګه هم د دې حقوقي او قانوني عنعنوي نظام یو جزء او برخه ده .

د همدې پخې قانوني او حقوقي پایې درلودلو جرګه په افغاني ټولنه کې د یوې لوړې مرجع په حیث وړاندې کړې او د دې عیني او عملي قوانینو د تطبیق واك او صلاحیت یې ورسپارلی دی .

د جرګې پریکړې کاغذي نه ، بلکه عملي وي ځکه چې د اولس د مخورو او سترګورو کسانو د پیړیو - پیړیو تجربې یې مخې ته پرتې وي او همهغه تجربه شوې او عملي شوې تجربې یو ځل بیا د خلکو په منځ کې پلې کوي .

مثلاً په ټولنه کې شوې پیښې ، جرایم او شخړې تاریخي سوابق لري او د هغې د حل لپاره تجربه شوې نسخې په شفاهي ډول را پاتې دي او جرګه د هغې له مخې پریکړه کوي او خپل قرار صادروي .

جرګه د خپلو پریکړو د تطبیق او عملي کولو لپاره په کاغذ لیکنې نه کوي ، لاسلیکونه او د ګوتو نخښې نه اخلي ، بلکه تر پریکړې وړاندې له جانبینو نه درانه مادي تضمینونه ترلاسه کوي او دواړه اړخونه مکلفوي چې په اخلاقي توګه دا پریکړې ومني او که احیاناً غاړه ترې وغړوله شي پر ټاکل شوې سزا سربیره د پریکړې د نه منلو پړه او ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوره تړلې سزا هم پرې راځي .

په افغاني نرخونو کې خون يوازې د قتل او وژلو معنی نه لري ، بلکه ډير داسې کارونه چې انسان معناً او شکلاً بدرنګوي د قانوني او حقوقي څيړنې په وخت کې په خون شميرل کيږي او مقابل لوری به د بشپړ خون په اندازه تاوان زغمي . مثلاً که څوك د يوه سړي دواړه سترګې وباسي د پوره خون پور پرې راځي ، همدا راز غوږونه ، ژبه ، او شونډې غوڅول ، يا د مخې غاښونه ماتول هر يو د يوه خون پور لري ، که دواړه لاسونه له بندونو نه غوڅ کړای شي د يوه خون پور لري ، له بند نه غوڅې شوې پښې هم همداسې دي خو که يوه پښه يا يو لاس له ولي او ورون نه غوڅ کړای شي هر يو د يوه خون پور لري او که له بند نه يو لاس يا يوه پښه غوڅ شي په نيم خون شميرل کيږي په همدې ترتيب ټول جرايم دړواخلئ (۳) .

دا قوانين او حقوقي تعاملات په کلي توګه د زمانو د تجربو په اوږدو کې رامنځ ته شوي چې جزيې توپيرونه يې د سيمو او ځايونو تابع دي او له خپل ټول جامعيت سره په ناليکلی توګه خوله په خوله له يوه نسل نه بل نسل ته راليږدي او لکه څنګه چې اولسي سندرې د اولس د ادبي تجربو په توګه خوله په خوله راليږدي همداسې دا قانوني او حقوقي تعاملات د اولس د اجتماعي او حقوقي تجربو په حيث را انتقاليږي .

په افغاني ټولنه کې د دې حقوقي او قانوني کودونو موجوديت دومره ارزښتمن دی چې د تاريخ په اوږدو کې يې په هيواد کې د کمزورو حکومتونو او حتی د بې حکومتۍ په دوره کې هم د ټولنې امنيت ، نظم او دسپلين خوندي ساتلی او د اولس حقوقي او قانوني ارزښتونه يې خوندي کړي دي ، دا کودونه او نرخونه همدا اوس هم زموږ پر ټولنه حاکم دي او د اوږدو کلونو له مسلطو ګډوډيو او د ګڼو بهرنيو او کورنيو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمنانو له توطئو او تباه کوونکو عملیاتو سره - سره یې په عمومي توګه د هیواد وحدت او د ملت ذات البیني مناسبات خوندي ساتلي دي .

په نتیجه کې ویلای شو چې جرګه په افغاني ټولنه کې ژوره قانوني پایه لري او زموږ د ټولو اجتماعي ګډوډیو د له منځه وړلو او د ستونزو د حل یوازینۍ مجربه نسخه همدا جرګه ده او تر څو چې ملي او بین المللي جوامع د جرګې امن پالې لمنې ته پناه ور نه وړي ترهغې به بله هیڅ نسخه کامیابه نه شي ، بلکه د پردو نسخو په رامنځ ته کولو اوتطبیقولو سره به زموږ ستونزې او کړاوونه لا پسې زیات او دوامدار شي او د یوه ناولي ناسور بڼه به غوره کړي .

د تاریخ په اوږدو کې د افغاني ټولنې او افرادو متقابلو اغیزو د جرګې داسې نتیجې پلی کړی دي چې ډیر ژر یې قانوني پایه موندلې او په حکمي ډول عملي شوی دي .

پاېلیکونه :

۱ - محمد عالیخانی ، داکتر : حقوق اساسی ، ۱۰ مخ ، ایران ، تهران ، ۱۳۷۳ ، د ستان له خپرونو څخه .

۲ - کُهزاد ، ارواښاد استاد احمد علی : افغانستان در پرتو تاریخ ۲۲ مخ ، د کتاب چاپولو مؤسسه ، ۱۳٤٦ ، کابل .

۳ - د تفصیل لپاره وګورئ : پژواك ، استاد عبدالرحمن ، « تعاملات حقوقیه وجزائیهء ملی » سالنامهء کابل ، ۱۳۱۸ ، له ۳٤۲ - ۳۵۸ مخونو پورې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(٤)

څپرکی

د جرگو رواني اغیزه

انسان د خپل عقل او شعور له امله یو داسې مخلوق دی چې گڼ معنوي اړخونه لري او گڼې رواني ځانگړنې خدای (ج) پرې لورولی دي ، له دې سره انسان یو ټولنیز او اجتماعي مخلوق هم دی نو د خپل ژوند له آغاز سره یې د انساني ټولنې بنسټ هم ایښی دی . د فرد او ټولنې متقابلو اغیزو او مناسباتو انساني ټولنې ته په کل کې یوه خاصه روحیه وربخښلې او د انسان توکم د بیلا بیلو ملتونو د ویش له مخې هر ملت د ځانگړې ملي روحی خاوند شوی او د خپلې جغرافیې ، خپل کلتور ، خپلو گټو او خپل تاریخ په غیز کې یې د خپلې ملي روحیې خپل رنگ ساتلی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوه ملت د ملي روحیې په ځانګړې کولو او پیاوړي کولو کې د کلتور لوی لاس دی چې د دې ملت د تاریخ په اوږدو کې شکل نیسي ، خپله ځانګړې بڼه تثبیتوي او خپلې ټولنې ته ځانګړی رواني تشخص ورکوي .

افغاني ټولنه چې د خپل ملي تاریخ په اوږده بهیر کې قالب بندي شوی او د خپلو افرادو د اوږدو تجربو په رڼا کې یې یو ملي کلتور رامنځ ته شوی د یوې خاصې ملي روحیې او ملي تشخص خاونده ده او ځانګړې خصایص او اوصاف لري .

له همدې امله افغاني ټولنپوهنه او د افغانستان د خلکو د ټولنیزو ځانګړنو او صفاتو څېړنه د تاریخ ، جغرافیې ، اقتصاد ، نژادونو ، ژبو ، عقیدو او د دې ټولنې د اوسیدونکو د اجتماعي دریځونو او روحي مسلکونو په نظر کې نیولو سره او د دې ټولنې د پیژندګلوی پاخه بنسټونه ژورو ، دقیقو او عمیقو څېړنو ته اړه لري او دا په خپله دومره پراخه او ویړ بحثونه دي چې د افغانستان « چې د مدنیتونو او فرهنګونو څلور لارې دی » د څلور زره کلن تاریخ په اوږدو کې اوږدو او پلنو څېړنو ته ضرورت لري او بیا هلته کیدای شي چې د دې هیواد د اوسیدونکو لپاره د هضم وړ سیاسي لاره وټاکله شي (۱) .

د افغاني کلتور یوه مهمه برخه هغه افغاني کودونه او نرخونه هم دي چې زموږ د ټولنې د افرادو اړتیاوو او غوښتنو رامنځ ته کړي او د دوی له ټولنیزو مناسباتو ، فرهنګي اړیکو ، اقتصادي اقتضاآتو او اجتماعي روحیې څخه زیږیدلي دي او د دې په لړ کې مو ، لکه څنګه چې مخکې وویل یوه هم جرګه ده چې پر افغاني ټولنه یې خپله ژوره، رواني اغیزه ساتلې او د تاریخ په اوږدو کې یې مثبت نتایج ورکړي او د هیواد لپاره یې د نجات د فرشتې بڼه غوره کړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر افغاني ټولنه د جرگې همدا رواني اغیزه وه چې افغاني ټولنه یې د نړۍ تر ټولو هیوادونو وړاندې دموکراسی او د ملي حکومت نعمت ته ورسوله . میرویس نیکه وکړای شول چې د جرگو په سیوري کې په ۱۷۰۷ م کال د افغانستان په یوه برخه کې ملي حکومت جوړ کړي (۲) سره له دې چې نړۍ ته ملي حکومت تر دې نیټې ۸۲ کاله وروسته په ۱۷۸۹ م کال د فرانسې لوی اوښتون ورویاخښه (۳) .

په دې توگه په ټینگه ویلای شو چې د افغاني ټولنې د سیاسي او ملي شعور د پروسې په گړندي کولو کې لویه جرگه یوه لویه وسیله وه او جرگه زموږ پر ټولنه ژوره او تاریخي رواني اغیزه لري او دا زموږ د ملت د ملي روحیې د پیاوړتیا او د ملي ارادی د اظهار یوه معقوله او مجربه وسیله ده او زموږ د ملت په ارواکې یې داسې نفوذ کړی چې نه منل یې د ملي جُرم معادل او انډول دي .

موږ چې په خپل تاریخ کې سفر وکړو نو زموږ ستونزې هغه وخت زیاتې او حادی شوی چې د جرگې اصل شا ته اچول شوی او د واك وزیو یا د نورو په لومو ترلو واکمنانو د « ملي سلا » پرځای د پردو له وسلې نه کار اخیستی دی ، زموږ موجوده ستونزې د همداسې یوه حالت مولود دي ، روسانو غوښتل چې په افغانستان کې د جرگو پرځای د خپلو گوډاگیانو په وسیله د خپلو کمونستي تجربو په نتیجه کې ترلاسه شوی شورایې سیستم پلی کړي خو د افغانستان خلکو په قاطعیت رد کړ او په ملي قیام یې مقابله ورسره وکړه خو روسان او کمونستان مجبور شول چې بیرته جرگې ته رجوع وکړي خو د واقعاً ملي جرگې د جوړولو وخت او شرایط یې له لاسه ورکړي وو ، همهغه و چې نتیجه یې سقوط او رسوایی شوه .

د کمونستانو ترسقوط وروسته د کابل ائتلافي حکومت چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمونستانو په مرسته جوړ شوی و او ظاهراً یې یو اسلامي روپوش درلود ، د خپل تظاهر د ساتلو لپاره د اهل حل وعقد د شوری پردې او نااشنا ماډل ته لاس وغځاوه او د ۱۹۹۲ کال په دسمبر کې یې په دې نامه یوه غونډه جوړه کړه (٤) خو په عمل کې یې دله تش په نامه جرګو سره کوم توپیر نه درلود او لکه څنګه چې هغه ملت ردې کړې وې همداسې یې دا تش په نوم شوری هم رده او تحریم کړه .

افغاني جرګو ته د رواني اغیز ترڅنګ کله - کله روحاني اغیز هم حاصل وي چې دا یې پر ټولنه رواني اغیز نور هم زیاتوي ، د لویانو او ولیانو زیارتونه د مسلمانانو لپاره مقدس او د درناوی وړ مراکز دي ، د همدې تقدس له امله کله - کله دا هڅه هم شوی چې جرګې د مشهورو زیارتونو په محوطو کې راوبللی شي ، لکه د کندهار د شیر سُرخ د مزار جرګه ، د کابل د مجاهدینو هغه جرګه چې د کابل د عاشقانو او عارفانو په زیات کې یې کړې وه ، یا هم د اتحاد [illegible] د هډې صاحب په زیارت کې شوی وه (٥) .

په نتیجه کې ویلای شو چې جرګه د افغاني ټولنې د ملي تفاهم یوازینۍ مجربه نسخه ده ، زموږ پر ملت او ټولنه ژور رواني او روحاني اغیز لري او زموږ د سیاسي ژوند ټولې غوټې د جرګې پیاوړې ګوتې پرانستلی شي :

د لمانځه ترقضا ګرانه دا قضا ده

چې قضا شي د څلورو مصلحت (٦)

پایلیکونه :

۱ - حبیبی ، علامه عبدالحی : جنبش مشروطیت در افغانستان ، ۱۸۹ مخ ، ۱۹۹۵ ، د سازمان مهاجرین مسلمان افغانستان خپرونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

٢ - وګوریٔ د همدی اثر د لومړي ځپرکي دریمه جرګه .
٣ - فرهنگ جدید سیاسي ، ٢١ مخ .
٤ - تفصیل د افغان جهاد د ١٣٧١ کال د مرغومي - کب په ګڼه کې وګوریٔ !
٥ - د تفصیل لپاره وګوریٔ د دې اثر لومړی ځپرکی : ٤ ، ٥ ، ١٠ نومره جرګی .
٦ - خوشحال خان ختک : د خوشحال ختک کلیات ، دوهم ټوک ، ١٣ مخ د افغانستان د علومو اکیډمی ، ١٣٦٩ .

PROPERTY OF ACKU 4904

(c) ketabton.com: The Digital Library

B
4.52
RAF
4904

Serise No: 85-

Psychological and Social Values of Afghani Jirgas (Assemblies)

By

Habibullah Rafi

Published

By

The Writers Union of Free Afghanistan (WUFA)

Peshawar 1995-
Copies 2000-

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library